Ketabton.com

غانستان د کلتوري ودې ټولنې

ويمې کليزې په ويار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مات ستوري

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

نصرالله «حافظ»

۱۳۷۸ لمریز

فروشگاه کتاب الازهر
مؤسسه نشر و پخش کتب فارسی
دهکی نعلبندی بازار قصه خوانی
پشاور پاکستان- تلفن : 2564414
E-mail: alazhar@psh.paknet.com.pk

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پېژندنه


نوم : مات ستوري.

شاعر : نصر الله حافظ.

خپرندوی : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني.

د خپرونو لړ : (۱۰)

کمپوز : احمد قیس (همراه) نوید کمپیوټر، کابل.

چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه.

چاپ نېټه : ۱۳۷۸ ل ۲۰۰۰م کال.


د چاپ ټول حقوق د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې - جرمني سره خوندي دي.

بیه : په افغانستان کې (      ) افغانۍ

په پاکستان کې (۳۰) روپۍ.

په نورو هېوادونو کې (   ) امریکایي ډالره او یا د هغو انډول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

PROPERTY OF
ACKU
8708

# د خپرندويې ټولنې يادښت

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې – جرمني لپاره د ډېرې خوښۍ ځای دی چې د خپلې دويمې کليزې په درشل کې د هېواد د پېښورې شاعر نصر الله حافظ د شعرونو ټولګه خپروي.

د افغانستان د وروستيو څو لسيزو په شعري بهير کې ښاغلي نصر الله حافظ د مطرحو، يادو او نوماندو شاعرانو له جملې څخه دی؛ د هېواد د ادبي بهير زياتره لارويان د حافظ صاحب له شعرونو سره اشنا دي، د هغه شعري ټولګې يې لوستي او له هغو څخه يې خوند اخيستی دی. د هغه سليس او روان بيان او پر شعري فنونو لاسبري د ده شاعري د عامو او خاصو د ذوق جوګه کړې ده.

حافظ صاحب نه يوازې د شعر او شاعرۍ له لارې هېواد ته د کلتوري خدمت جوګه دی، بلکې له څو لسيزو راهيسې يې د شاعرۍ تر څنګ نورې ادبي د هنري ليکنې او ژباړنې هم کړې او له دې لارې يې هم د هېواد فرهنګ ته نه هېرېدونکې خدمتونه کړي دي. لنډه دا چې پنځوس کاله کېږي نصرالله حافظ د هېواد ملي ژبې او فرهنګ ته خدمت کوي. موږ په داسې حال کې چې د هېواد دې سپين ږيري شاعر او ليکوال ته د نورو زياتو فرهنګي خدمتونو هيله کوو، د لوی خدای(ج) له درباره څخه هم هيله من يو چې ده ته ښه روغتيا او زيات عمر ورکړي چې د هېواد پر فرهنګي ګلبڼ باندې نور هم لکه د يو سندريز بلبل په څېر وچغېږي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه – جرمني، په کاناډا کې مېشته افغانه؛ درنه خور پېغله سپوږمۍ جرنيلي احمدزۍ هم د زياتې ستاينې او مننې وړ بولي چې د دې شعري ټولګې مالي لګښت يې په ورين تندي ومانه او دا شعري ټولګه د چاپ جوګه شوه.

# مات ستوري
# او تته رڼا

ډېرو خوږو، درنو او ګلو لوستونکو!
د پښتو ادب په اسمان کې چې تاسې د کوم "مات ستوري" ننداره کوئ او تاسې يې په خپلو لوستلو بوخت ساتلي ياست، دا د يوه بوډا او سپين ږيري شاعر د زړه د هغو وينو رنګ دی چې له ډېرو کلونو را په دې خوا يې د الفاظو په لباس کې ډېر سپين کاغذونه ور باندې رنګ کړي دي.
زه د "مات ستوري" د چاپولو او خپرولو په برخه کې د هغه خوا خوږي ورور د لورېينې ډېر قدر کوم چې زما د نورو دوو شعري مجموعو (د شمشاد له هسکې څوکې او ستا د چم ګلونه) د خپرولو په چاره کې يې ډېرې هلې ځلې کړې. د نوموړو مجموعو شعرونه يې زما په اشعارو کې غوره کړي او نقل کړي دي. او د "شمشاد له هسکې څوکې" پر مجموعه يې سريزه هم ليکلې ده. زه ګران او قدردان ورور زرين انځور يادوم، چې نن سبا زموږ د فرهنګ په اسمان کې د يوه ستوري غوندې ځلېږي.
کله چې ما ته د ښاغلي انځور ژبنی پيغام زما د يوې غزليزې مجموعې د چاپولو په باب زموږ د ادبياتو د لارې د نه ستړي کېدونکي لاروي (محترم يون) په وسيله را ورسېد، نو ما يو ځل بيا د خپلې پنځوس کلنې شاعرۍ د زړو او نويو دوسيو د ذخيرو پاڼې واړولې او يو شمېر زاړه او نوي غزلونه مې ورنه را بېل کړل، چې بيا مې هغه ګران صديق الله بدر ته وسپارل او ورته مې وويل چې د غزلو په غوره کولو کې ته اختيار لرې، چې هر څه درته ځوان او زلمي ذوق او د وخت غوښتنې اجازه درکوي، ته به هغه غزل د دغې مجموعې لپاره انتخاب کړې چې هغه هم زما دغه خبره په ورين تندي ومنله او دا دی چې "مات ستوري" ته دا وياړ ور په برخه شو او ستاسې د شعر او ادب مينه والو د مطالعې وړ وګرځېدل.

زه خپلې خبرې رالنډوم، خو دغه خبره پر ځان لازمه ګڼم چې په دغه ځاى کې اول له خپل محترم ورور ځوان اديب محقق، منتقد او معاصر مشهور کيسه ليکونکي (انځور) ښخه او بيا په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې او هم دارنګه له ځوان (يون) ښخه مننه وکړم چې مات ستوري يې د دې جوګه کړل چې د هېواد د ادب پر اسمان خپلې تتې رڼاوې خپرې کړي. "بدر" ته چې د مات ستوري د شعرونو اهتمام کې يې خپل ځان ستړى کړى په دغه لاره کې ورته د لاتوفيق غوښتنه کوم، او همدارنګه ښاغلي (قيس د نويد کمپيوټر کمپوزر) ته کوروداني وايم چې د مات ستوري د کمپوز په برخه کې يې له اخلاصه کار اخيستى دى.

والسلام

نصر الله حافظ

افغانستان - کابل، تايمني واټ

د ۱۳۷۸ ل کال د ليندۍ ۵مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپل دغه شعرونه د هیواد ډیرې دردیدلې او کړیدلې شاعرې درنې پروین فیض زادې «ملال» ته په بشپړه مینه ډالۍ کوم او دا هم یو هغه شاعرانه غبرګون چې ما په ۱۳۶۰ هـ ش کال د غبرګولي د میاشتې په لسمه نیټه د محترمې پروین د یوه ښکلي شعر له لوستو وروسته چې ماته یې لیکلی و، کړی دی:

که مې دردونه د زړه وینې راځه
کله نا کله خو پروینې راځه
درته په لار کې غوږیدلې پرتې
ږده په لیمو قدم د مینې راځه
د کوهکن زړه د تلوسو په خاطر
تپوس د حال ته مې شیرینې راځه
کور مې د زړه تش دی له غیرو څنې
درته کووم خبرې سپنې راځه
چا د بیلتون په تیغ وهلې راته
له زړه مې څاڅي تورې وینې راځه
رڼا رڼا به کړي دا تور تمونه
د خدای لپاره مه جبینې راځه
دلته د ستا د زړه خبرې شته دي
نور شرم مکړه شرمګینې راځه
ستا د درانه پلو له سیورې لوګی
ای پښتنې درنې سنګینې راځه
ستا د نازونو قدر دان دی «حافظ»
ډاډه هر وختې نازنینې راځه

# مناجات

الهی کرم دې خپل راسره مل کړه
په امان مې له شیطان رجیم د غل کړه
پروانه چې ستا د عشق ورته رادرومي
د وحدت حشراغ زما په زړه کې بل کړه
پیمانې چې د نورونو په کې ګرځي
د زړه کورمې د هغه بزم محفل کړه
بندګي مې له قصوره خالي نه ده
دا نیمګړې عبادت مې مکمل کړه
د ګناه خیرې مې پاک کړه په کرم خپل
ورک د دې عاصي له زړه دغه خلل کړه
چې تیارې د ضلالت شي پرې روښانه
را په لاس راته د خپل رحم مشعل کړه
د ماضي او حال په فکر مې زړه شین دی
راته ښکلی نامعلومه مستقبل کړه
ستا جمال ستا د جلال له برکته
لویه خدایه تور لحد مې مجلل کړه
پرښتې ئې چې په خاورو کوي فخر
په نصیب مې د هغې مینې درشل کړه
غني خدایه چې حافظ ئې شم د عمر
ستا د ذکر دا بیان مې مفصل کړه

۱۳۷۷/٤/۱۲

# نعت شریف

خاونده ! ما بلبل کړې په ګلزار د مدینې
چغېږم به په ګلو هر سهار د مدینې
نصیب مې که سفر کړې رب په لور د هغه ملک
بنو باندې به پاکه کړمه لار د مدینې
بتان د مکې مات شول هم قصرونه د کسرئ
پیدا چې په مکه کې شو سردار د مدینې
نغمې د نبوت یې چې خورې وې په فضا
په زړه باندې مې اورې نوبهار د مدینې
د زړه وینې مې سرې دې ورته پښو کې په هوس
چې ووینم په خوب کې لاله زار د مدینې
شپو ورځو د بیلتون راباندې ژوند کړلو خراب
نسیمه ! عرض مې وکړه په بادار د مدینې
له عمر نه لرمه دا آرزو په زړه کې زه
چې کاشکې وای زه خاورې په دربار د مدینې
وهي راته توپونه د سینې تنګه پنجره کې
لیدوته دې دزړه مارغه بې وار د مدینې
ارمان که مې پوره شو دا مې ایښې نذرانه
خیرات د سر به ورکړم په بازار د مدینې
حافظه! که د زړه سترګې دې غواړې کړې بینا
توتیا ورته په مینه کړه غبار د مدینې
١٣٣٦/٤/١٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوسیلو لښکر

چې ئې ولګید پر مخ نظر زما
په هاله کې شوه د ناز قمر زما

چې په مینه ناپیدا هم پیدا وینم
شو په کومو رنجو تور بصر زما

د رنګ ساعت ته به د حُسن بازار لوټ کړي
کړي یرغل د اوسیلو لښکر زما

میني هومره لوړ پرواز سره آشنا کړم
د عنقا له پره بر شو پر زما

دا خو کار د مینتوب ته حیراني ده
بخته ! تا راوستل څه په سر زما

ما به وي د ستا پوښتني ته لیږلي
که ته وپوښتي له چا خبر زما

امتیاز د دورنګی له منځه لاړه
تور او سپین د زړه کړه لوټ دلبر زما

قافلي د تورو زلفو به اوس لیږدي
راختلی د اُمید سحر زما

د حافظ د میني درد کې خوشحالي ده
داچې خاندي د زړګي پرهر زما

١٣٣٢/١٢/٢٥

# د اُمیدونو سحر

په تورو زلفو کې مې سپین مخ د دلبر ښکاري
که نرئ وریځ کې د آسمان په لمن نمر ښکاري
زه ئې په نیمه لار کې پریښودم د ژوند د اوبو
په رښا ورځ رانه د زړونو سکندر ښکاري
د مینې اور به مې مستي د جهان وسوزوي
کله په دې تنگه سینه کې د اشرر ښکاري
چې ئې کتلي ستا د اوښکو ملغلرې پرمخ
څکه له شرمه په سیپی ورنه گوهر ښکاري
د بلبل مینه خدای پیدا کړه د گلونو سره
په سرو لمبو کې خوښ اوریښتی سمندر ښکاري
په اوسیلو مې داسې ستا زلفی پلو لاندې شي
لکه ماران چې د هودې له پاړوگر ښکاري
جانانه ! وایه مینه ستا به څنگه پټه کړمه
کله په سر باندې زخمونه د خنجر ښکاري
حافظه دا دبیلتانه شپه به سبا شي آخر
څو به د ستا د امیدونو سپین سحر ښکاري .

۱۳۳٤ کابل

# ښه دی

یوه ئې مینه یو مې یار ښه دی
یو ئې د سپینې غاړې هار ښه دی
چې مې د هیلو غوټې وغوړوي
د تور شپې ځنې سهار ښه دی
چې وي تازه باغچې د حسن په کې
په موسمونو کې بهار ښه دی
چې سره گلونه و په جم او جوش کې
جوړ د بلبلو پرې چیغار ښه دی
بس دی د صبر تنې ژر وشکوه
مینه کې کله انتظار ښه دی
چې د آشنا د کور په لور دې بوځي
د یار په مینه کې ریبار ښه دی
ماته د نورو له گلونو ځنې
جانانه ! ستا د سیمې خار ښه دی
وطنه ! ستا د ننگرهار په سیمه
ماته له ټولو چپرهار ښه دی
شه حافظانو کې دیره حافظه
مړشه همدلته دې مزار ښه دی

۱۳۳۰

# نـــه غـــــــواړم

بلد پـــــه لاره يـــم رهبـــر نـــــه غـــواړم
زه د خـپـل سـر لپـــا ســــه ســـر نه غـــواړم
ځـــــــم د ازل د رهـــنــــمـــا پــــه نظـــــر
هغـه نظــر تــه بـــل نظـــر نـــه غـــواړم
چــې حشه بهـبـود په کــې د مـيـنـــى نـه وي
دغـــه کـتــاب هغـــه دفـتــر نـه غـــواړم
چې په کې پروت نــه وي خيــرات د حـســـن
خـــالـي کـچکـــول د قـلـــنــدر نـه غـــواړم
چـې يـــې د يـــار په ســـرونه ښنــدمــه
بې نـــوا ښـه يـم ســيـــم او زر نه غـــواړم
د حـــق ويـلـــونـــه چـــې ژبـــې تـــړي
دغـــــه جـادو دغـــه منـتــر نه غـــواړم
چــې پـــه کـې ثـيـــرې وي د زړونو جـامـــې
هسې بـــرات هسـى اخـتــر نـــه غـــواړم
چــې مې د زړه ســپـيـلـنـي نـه کـړي لـوګـي
دغــه بې ســوزه شـــان مـجـمـــر نه غـــواړم
دا د غـــرور مـانـــې چـــې نه کـړي لمبـــه

آهـــه! پـه تاکې پـټ شـــرر نـه غـــواړم
د حـــق پـنــه لاس کې چـــې ونـــه ځلیـــږي
ایښــي پـــه تیکـــې کې خنجـــر نه غـــواړم
د بـــري تـــوغ چـې پـرې ونـــه رپيـــږي
هغـه مـات شـوی وران سنگـــر نه غـــواړم
کـه مې پیـــدا کـــړه د زړه ورکـــه مـیـــنه
نـــور بـــه ملکـــونه در پـــه در نه غـــواړم
په خـپـــلـه ځـــالـــه پاچـــاهـي کـــومـــه
چې نور پرې ښکار کـړم بـــال و پـــر نه غـــواړم
کـه شـي د چـا لـه شـینـــکي خـــالـه قـــربان
کـــه ســـر مې ځـي تاوان د ســـر نه غـــواړم
چې ځـان را یاد کـړي او جـهـان مې هیـــر کـړي
زه «حـــافـــظ» دغـــسې هنـــر نه غـــواړم

۱۳۳۶/۵/۱
پښتني تجارتي بانک

# د اجل تبه

چې کوږ شمال دې په وربل راشي
په زړه زما د غم غوبل راشي
چې اوسیلي دې تش له خولې نه وځي
نو په ما تبه د اجل راشي
په تروه تنده چې را وګورې ته
غم له ما تمه سره مل راشي
بیلتون دې اوردی دم په دم مې سوزي
ستا په وعده یوځه تسل راشي
ځان آئینه کې هغه وخت وګوره
چې دې پرمخ د زلفو ول راشي
درنه به پته کړم ادا د سترګو
که چیرته ما ته د غلا چل راشي
په زړه مې دیر څه درته ګرځي ګرانه
خو ګه په خوله دغه ویل راشي
شوم پښیمانه په دې کړې رندی
نه چې په مینه کې خلل راشي
حافظ چې ستړی په فراق کې شمه
د زړه دمه مې په غزل راشي
۱۳٤۲/۲/۱٤

# د اوښکو کاروان

ستا د سرو شونډو شفق او د شهيـــن مخ آسمان مې خوبښ شو
ځای په ځای خالونه ستوري کهکشان پېـــزوان مې خوبښ شو
چې وسنا ويشتل په زړه کړې د کږو ښو په غـيـشــو
او ګوزار ئې خطا نه ځي د ابرو کـمــان مې خوبښ شو
ښه چې ستـا د تورو زلفـو سلسلې مې زولنې شـوې
که له قيـده مـراد داوي يم رضا زندان مې خوبښ شــو
د وصال متـاع به راوړي پس له ډيرو خـتـه بيلتـــونه
په زيړمخ د ترمو اوښکو راروان کاروان مې خوبښـــو
چې نرګس دې مستې سترګې شرموي له ډيره خيـاله
د جنت ګلشن به څه کړم د ښکلا بوستـان مې خوبښ شو
که د سر په بيـه وشي پرې به واخلمـه ستـا مينـه
له سرې ګټمې نه تير يم د عشـق تود تاوان مې خوبښ شو
ستـا په غاړه اميلـونـه په کې رنګ په رنګ ګلونه
زما سـوې ارمـانونه دريده ګـريوان مې خـوبښ شـو
خوله پيـالـه د سرو شرابو صـــراحې په شانته غـاړه
د ملالو سترګو زمب کې د خمار توفان مې خوبښ شو
په مجلس کې د رندانو چې د عـشق د مـيـو ويش کړي
ساقي د که پياله راکړه د جنون جهان مې خوبښ شو
د حافظ په سوې زړه کې بې له سوزه بل څه نه شته
چې له سـوز او درده ډک وي تو هغه بيـان مې خوبښ شـو

شريکه دنيا     کابل - ۱۳٤۳

# خوار حسن

په شکیدلي گریوان زانگي جړې زلفې پریشانې
شوې د خوار حسن کتوته د جهان سترگې حیرانې
د هوسی په شانته سترگې ، د نظر د ښکار له ویرې
د سپین مخ په ورشو گرځي وارخطا او سرگردانې
له ښوئې د گوهر ودانې اوري خوارمان چې
دې د اوښکو ملغلرې نابیناوته ؤ ته ارزانې
د کړو وروځو باتورئې د تندي په چگس ناست دي
وزر ځنډي ښکار لپاره خوري د زړونو غزالانې
خوله سیپی غاښونه دُوردي خود قدر بازار وران دی
د آهونو قافلې ئې په سپیر و شونډو روانې
مورنی ژبه ئې خوله کې په پښتو کوي خبرې
په پښتو ورسره کاندي ؤړ نازونه اداگانې
زنگ وهلی سپین چارگل ئې هسې زیب کوي په پوزه
ننداري ته ئې دریدلي په حیرت کې دي ښاریانې
ښکلې زنه ئې منه ده پرې پرته د خواری دوړه
وچې شونډې ئې په غم دي هم د گل غونډې خندانې
په زاړه ځادر کې نغښتې د ښکلاو پرښته ده
ځای لري د زړه په عرش کې په غمزو کړي غزاگانې
د مزدورې ابی لور ده پلوشه جوړه د نور ده
ساده حسن ته ئې پسخیږي په ارم کې ښاپیریانې
د خوارحُسن ترانه ده ځه غمژنه افسانه ده
په رښتیا چې دا خبرې په حافظ دي ډیرې گرانې
د میزان میاشت ۱۳۴۳

# د وصل باده

چې په کام د محبت کې یو کرت سړی ناکام شي
د پخو میو په باغ کې د نصیب نظر په خام شي

په محفل کې ورته راوړي ساقي ښه شراب د مینې
د قسمت چاروته گوره چې چپه ئې لاس کې جام شي

د بیلتون په ترخوباندې لذت مومي کار د مینې
دغه کیف به په کې نه وي که د وصل باده عام شي

د کیمیا اثر ورکړی خدای نظرته د نمر مخو
توري خاورې پرې سره زرشي چې ئې هر پلوته پام شي

کور مالت به تول له مخې ستایه وال کړي د خپل حُسن
شاه لیلاکه نن له خیاله مازدیگر پورته په بام شي

د هوښیار مارغه په خیر به په سل لومو کې راگیر شم
زمانه راته له سترگو په قدم قدم کې دام شي

لیوني د یار په زلفو کې ورلویږمه یارانو
په ښه بوی باندې رغیږي خلک وائي چې سرسام شي

زه حافظ په هوډ ولاړیم ان د مرگ تر پولو پورې
که د ژوند تنکۍ غرمه مې په همدې گړۍ ماښام شي

۱۳۴۵/۴/۲۰

# یوه موسکا

ای ربباره راته وایه چې دلدار مې ؤ کــه نه ؤ
چې له ځانه راته ګران دی هغه یار مې ؤ کـه نه ؤ

چې د زړه غوټۍ مې ګل کړې د وصال په نسیم باندې
دې خـزان وهلي ژوند ته نوبهـار مې ؤ کـه نه ؤ

زړه ئې واخسته له مانه چې یوه موسکا ئې وکړه
هیڅ له ځانه خبر نه وم چې اختیار مې ؤ که نه ؤ

زه د عشق په کار او بار کې د وفا سره آشنا یم
چې ئې خوی مو دام جفا ده جفا کار مې ؤ که نه ؤ

چې زما د خولې خبرې وې په ساه ورته ارزانې
په بازار د محبت کې خریدار مې ؤ کـه نه ؤ

څه چې وائې راته وایه د حافظ له خوارې مینې
د بېلتون په سرو لمبو کې تارکرار مې ؤ که نه ؤ

۱۳٤۸/۲/۱

# د غازي منت

په داسي مخ به کوم نیک بخته خوله ږدي
چې منت لا د غازي هم په ځان نه ږدي

که مطلب یې ترې زما خواشیني نه وي
په سپین مخ ځله د ناز خالونه شنه ږدي

خوږې شونډې تریخ نظر دا څه دستور دی
چې په یو ځای د خوږو سره ترخه ږدي

چې له خیاله په شالاړه شي وخاندي
بویه داچې مې ملهم په زخمي زړه ږدي

لیندۍ وروځې ئې سم دم ویشتل په زړه کا
د بڼو غشي که ډیر په کې کاږه ږدي

زه ئې خاص ستا د غمزو اشاره بولم
چې رقیب مې په هرځای کې پل په پله ږدي

١٣٤٩

# بې سازه سوز

ستا یوه موسکا به په جهان باندې ورنه کړمه
خدایږو چې دا ګتمه به په زیان باندې ورنه کړمه
کیږي مې چې تا سره د مینې راز و نیاز په کې
زه به دغه ښاره په بوستان باندې ورنه کړمه
ایښې چې پرې تا د ناز مکیزډک قدمونه دي
دغه خړه خاوره به آسمان باندې ورنه کړمه
کومه خوشبوئي چې ستا د څنو یوه تارکې ده
مفته به ئې د مښکو په کاروان باندې ورنه کړمه
مینې لیونی څه چې د ستا په لیونتوب کې دي
هغه هوښیاري به په لقمان باندې ورنه کړمه
مه راوړه په مینه کې دارو طبیبه! خیر یوسې
دا بې سازه سوز به په درمان باندې ورنه کړمه

۱۳۵۰/۵/۱۶

# د زلفو جهان

په کومه ژبه صفت وکړم د جانان د زلفو
مائې په زلفو کې لیدلی بل جهان د زلفو
چې ئې بیگاه د چا پرمخ د زلفو شپول لیدلی
سپوږمۍ د خواست ځولۍ خوره کړه په اسمان د زلفو
څو چې زنځیر او زولنې د زلفو ونه گوري
په خود به نه شي په هیڅ رنگ ته لیونیان د زلفو
اغیاره زه ئې خوی او بوی د کفر څه پیژنم
یم ساده د له سپین سپیځلی مسلمان د زلفو
ژوندون هغه دی چې په وصل کې د زلفو شي تیر
قایم قیامت کاندي په ما باندې هجران د زلفو
تا را په غاړه کړلو اوس د تورو زلفو زنار
ما قبول کړی لا د وخته دین ایمان د زلفو
زه چې دا زلفې زلفې وایم عبادت ئې گڼم
خدای هم په خپله صفت کړی په قرآن د زلفو
په هر سهار چې د سنبل د زلفو ذکر کوي
لرې په غاړه د عشق لومه بلبلان د زلفو
جانان له ما تاوان د خپلو ما تو زلفو غواړي
په سر او مال به شي پوره کله تاوان د زلفو
خدایږو چې زړه به د زاهد وریسې بوت ووځي
په کومه ژبه چې حافظ کړی بیان د زلفو
۱۳۵۰/۱۱/۱۰

# یوه دره ده

دی وطن د ښـــــا پیــــــریـو د ښکـلا یـوه دره ده
د سـپـیـن غــره پـه لمن وبـره پـه رښـتـیـا یوه دره ده
چینې تا ندې د خـور غـارې گـودرونـه ئې ودان دي
مـــازدیگر ئې د کـــتـــو دی تماشـــا یوه دره ده
نیـمــه شـپـه ئې له دیرونه د تپـو آواز چگیـږي
د ســـتـــار پـه زیر او بم کې جـان فـزا یوه دره ده
گـورې ونې گڼ باغـونه جنتي مـیـوې پـه کې دي
چې سیل بین پـه کې خوشال وي بس همدا یوه دره ده
گل کڅونه پـه کې شته دي رنگ پـه رنگ پـه کې گلونه
د بلبل له نغـــمـــو ډکـــه هر ســـبـــا یـوه دره ده
د زره غـوښــه هر مـیلمـه ته ورکـوي پـه خپله خـوښـه
ده مـشـهـوره مـیلمـه پاله له پخوا یـوه دره ده
د سـپین غـره سـړې اوبـه ئې جـوړ درمل د رنځورانو
پـه هـوا کې ئې شـــفـــا ده خـــوش هـوا یـوه دره ده
د نسیم ورمـه ئې څه ده پـه کې پروت د مسیح دم دی
د قـــدرت له رنگینیـــو جـوړه بیـــا یـوه دره ده
مـحـبت مـینه ئې زړو کې تل ژوندی پائي پـه مـیـنه
د وحـــدت د نـور پـه وړانگـو کې رڼا یـوه دره ده
یوه ښکلې شـان ورشـوده پـه کې گـرځي غـزالانې
ســراســر ډکـــه له عـــشـــقـــه او صـــفـــا یـوه دره ده

ب يې مينه ، بوټي مينه ، هوا مينه فضا مينه
د مجنون د مينې کور دئ د وفا يوه دره ده
غم ئې کم شي چې څوک ورشي تود بازار کې د حسن
په د حسن سوداګره ! د سودا يوه دره ده
د سپين غره د سپينو واورې سپينې ورانګې راخپرېږي
پرې مين د آسمان نمر دی په دنيا يوه دره ده
باتوران او شاهينان ئې لا له ښکاره ستړي نه دي
شاهبازان ئې مودام څرخ خوري په فضا يوه دره ده
د هنر او ادب بزم په کې پاتې دی تل ګرم
د محفل ديوه ئې بله نا آشنا يوه دره ده
تو له شپه د اسمان ستورې هم د دې ښکلا ته ګوري
د سپوږمۍ زړه په کې خوش وي دلکشا يوه دره ده
چې جرار ، بيدار ، بينا يې ښکلا وار په وار ستايلي
د حافظ د ژوند جونګړه څه زيبا يوه دره ده .

کابل ۱۳۵۲

چپرهار

# د غم سندرې

قلم مې نه ليکي کــــه ليکي نـو د غم سـندرې
چې مې لگيـږي شـپـه او ورځ پـه غـوږ د بم سندرې
چې پـه سـرو وينو کې لمده ده د وطن جـامـه مـو
کله راځي زمــا پـه خــوله د جــام جم سندرې
وخت رانـه تيـر شـو د خـوښۍ او خـوشالۍ د سـرود
دي پـه سُـر شـوي پـه هرسـاز کې د مــاتم سندرې
خوښي د روغـو زړو نصـيب شـه زه نا روغـه يمـه
مـاته منظور دي درده سـتــا د خــواره چم سندرې
اى د تقــدير كــاتبــه تانه به گـيله څـه كـوم
مـــاتـه د مخ پـه پـانـه تـل ليکـه د نم سـندرې
وه دا دنيــا بـه اوښکې اوښکې لـه مــاتمه ورتـه
کـه اوريدى شـوى چا پـه هجـر د شـبنم سندرې
پام کــوه پام رباب د روح ته مې چې لاس رانـه وړې
شي به يې جگې لـه هـر تـاره د مـــاتم سـندرې
«حـافظ» خـولا ړو كـډه ئې بار د ارمـانونو كـړله
اوس بـه څــوک ووايي د رخـــوتـه د آدم سندرې
۱۳٦٤/۳/۳۱
شاه شهيد كور كابل

# د پتنګانو محفل

بلو و شمعي پتنګانو ته محفل جوړوو
د مينې سوو ليونيانو ته مقتل جوړوو
چا کړي څه څوک به کړي څه او لا به څه کوي څوک
موږ شاعران يو ځان ته بزم د غزل جوړوو
موږ د دنيا او د عقبا د جوړيدلو نه يو
د شعر پيغلې ته په نوي رنګ وربل جوړوو
موږ د ابد د ناکردو ميړني نه يو دومره
سپيره تندي کې ورانې ليکې دازل جوړوو
غمازه تا ته مبارک شه دا د ځمکې دوزخ
د کهکشانو ملک ته موږ لار د منزل جوړوو
داچې خزان باغچو کې ګرځو د ګلونو پسې
ښکلي کوو وربانديې څلي د بلبل جوړوو

۱۳٦٤/۷/۱۱

کورشاه شهيد

# د نظر براق

د نظر د براق واګي دې لېږ تم کړه
عرش د زړه مې مشرف په خپل کرم کړه

د سرو اوښکو پسرليه ورندى شه
دا خزان باغچې مې ګل په خپل کرم کړه

زما ځيرې ګريوان پرېږده چې وي ځيرې
را په برخه خوشحالي د ټول عالم کړه

زه د مينې مانوګى يم پروا مه کړه
د الفت د رباب دې دې خواته راسم کړه

د وصال په لاس د سمال د عطا واخله
پرې مې وچ د بيلتانه د سترګو نم کړه

چې دې وخورم د زلفو په منګورو
د سرو شونډو پاړو ګره اوس مې دم کړه

ډير غمونه په ما را غلل ته چې لاړې
په راتلو دې د حافظ نه لرې غم کړه

۱۳ / ۸ / ٦٤

# د جمال تصویر

د بیلتون اوښکې مې د اغونه په ګریوان پاتې شوې
د زړه کیترۍ مې په کوڅه کې د جانان پاتې شوې

دا یې تصویر دی د جمال لږ را په خود شه عقله
د آئینې غونډې چې ته ورته حیران پاتې شوې

حسن بدل مینه بدله شوه سنګار بدل شو
لاړې کیسې ستا د نتکۍ او د پیزوان پاتې شوې

د سبا ستورې څه بې ځایه راختنه وکړه
ستا د ګیلو مانو خبرې مې آرمان پاتې شوې

مینه به اوس درته د غیرې نه جنت جوړ کړي
چې په ما لت د لیونو څیرې ګریوان پاتې شوې

اوس جنازې پسې دې پواره ښکلې منډې وهي
حافظه ! ته چې تل د حسن ننا خوان پاتې شوې

۱۳۶۶

# د بغداد په لور

روان یو له کابله د بغداد په لورې ځو
دیدن ته د چا ښکلو د مراد په لورې ځو

شو دلته مو له څرمې فریادونه بې حاصل
د وخت له بې دادینه ځو د داد په لورې ځو

زیارت به هلته وکړو د نجف او کربلا
د مینې او وفا د ټینګ بنیاد په لورې ځو

سلام ته به په سترګو ځو د غوث ثقلین
ناښاد زړونه به ښاد کړو چې د ښاد په لورې ځو

مونده ګوندې ارمان کړو د بابل په خرابو کې
تاریخه! ستا د ستر برم د یاد په لورې ځو

کیسه به را تازه کړو د هاروت او د ماروت
ای عشقه! ستا وعدې ته د میعاد په لورې ځو

دربارکې د امام بوحنیفه به وکړو عرض
د مینې طالبان یو دا ستاد په لورې ځو

مرشده لاس مو نیسه چې مو یونسي دجله
ده څومره نیک مرغي چې د ارشاد په لورې ځو

۱۳۶۶ لړم ۲۸

# د زړه زور

وړو په وړو باندې کمیږي د زړه زور مې
اوبه کیږي اوبه کیږي د زړه زور مې

د فراق په کندو کله د ختو دی
هسې رنګ رامعلومیږي د زړه زور مې

چې خزان مې شو میلمه په باغ د عمر
لکه ګل غوندې رژیږي د زړه زور مې

په ځنګ شوی چې د ژوند له ګیرو داره
په خپل ځان باندې پوهیږي د زړه زور مې

چې هر څومره جفا پورته ځي د دهر
هومره ښکته کیږي د زړه زور مې

چې لیدلی یې د چا د مخ ډیوه ده
د پتنګ غوندې سوزیږي د زړه زور مې

۱۳۶۵/۱۱/۵

کورشاه شهید

PROPERTY OF ACKU 3707

# ځي او راځي

دا ځــو کـــالـه ځـــو پـه غم ځي او راځي
پـه قــــــريـاد ويـر او مـــــاتم ځي او راځي

نـوروز ځــــه دي بـدرګــــه ورســــره هر کـــال
درد او غــم پــه هـر قـــــــدم ځي او راځي

بـې يـارانـو بـه د زړه خـــوښي پـه ځــــه وي
پـه زړه ځـــــريکـې د الـم ځي او راځي

خنـدا وچـه ده د شــــونډو پـه مــــالت کـې
پـه هر مـخ د ســــر ګــــونم ځي او راځي

د ښـادي د ســاز نغـمـــه ده چـرپـه شـوې
انـــګـــازې د تـــوپ او بم ځـــي او راځـــي

ګـــلان مـــراوي پـر بـلـبلو مـــاتم جـوړدي
پـرې د ســـرو لمبـــو کـــرم ځي او راځي

لا زمـــا د زړه د ګـل بـوټـې خـــزان دي
پســــرلی مې ګــــه پـه چـم ځي او راځي

چې زمــا د زړه د ښې بلبل خـــامـوش دی
پــسې ســــاه مـې دم پـه دم ځي او راځي

چې د ښـکلي مخ رڼـا يې لمر کي نيشـــه

UKJA

نو په ستر گو مې تورتم ځي او راځي

سره اوروته يې په سرباندې بليږي

پرګني د بني آدم ځي او راځي

لکه سيوري مې دمساز د وطن غم شو

دم قدم راسره سم ځي او راځي

لا به نور ستا د هجران غمونه راشي

ګرانه تر اوسه خولاکم ځي او راځي

په کې خوند ستا د پايزبو د شرنګ نشته

ښا پيري که دارم ځي او راځي

د ځواني احساس پرې نه ناځي مطربه

ستا نغمې په زير او بم ځي او راځي

دي شکولې ورته چا امېل د غاړې

په ژړا مې چې صنم ځي او راځي

زره تک تور دی د رقيب خو په ظاهر کې

د دوستۍ په خوله قسم ځي او راځي

د سپين غرغوندې مې زره ورته ولاړ دی

که پرې ورېځې د ستم ځي او راځي

١٣٦٧/٤/٢٥

# نیپوهیږم

د بهـــار ښکلي رنګونه او رنګونه
ورسره د عـشق سـازونه او سـازونه
که اغیـارو په کې خاورکړلي نه وای
دا وطن به اوس ګلونه او ګلونه
په دیدن به د بلبل نه مړیدلو
مینې ځکه عجب وختونه او وختونه
سترګې ځکه وي د وطن د هرې پېغلې
د شرابو ډک جامونه او جامونه
هر سړی د ژوند په قدر او خوشحاله
ورکه له ځیرمې ټول غمونه او غمونه
ژړانه وه فریادونه او غوغا نه وه
له خوبیو ډک ګلونه او ګلونه
حافظ وایي دا دوزخ ورته چا جوړ کړ
د جنت غوندې باغونه او باغونه

۱۳۶۷/۱۲/۱۰

د راډيو لار

# ارمان

تالا تر څي شـــــرله چمن ګلونه ورژیدل
زمـــا د مـــیني د ګلشن ګلونه ورژیدل
چې په څـــو ژبو یې صـــفت کـــاوه د چا د حـــسن
په باغ او بڼ کې د ســـوسن ګلونه ورژیدل
ښکلا د پــیـــغلو د وربل او د زلمو د شـــملو
لا پر ه زمـــــــوره د وطن ګلونه ورژیدل
باد بیـــا چې خبر ورکـــړ د شـــیریني د مـــرګ
تازه په وینو د کـــــوهکن ګلونه ورژیدل
نور زلیـــخا ته څـــه شي پاتې د ویلو تشـــو
چې د یوسف د پیـــــرهن ګلونه ورژیدل
کـــه زر ســـپرلي راشي حافظه وبه نه غوړیږي
کـــه دې داخل ته د ســـخن ګلونه ورژیدل

۱۳۶۷

# د دیدن خیرات

نن دې ستر ګو کې د کوم شراب مستي ده
چې راغلې مې په زړه هسې سستي ده
ستا ترخې سپورې زما خوږې د نورو
یاره ! دا څه محبت څنګه دوستي ده
ساقي ستا د منت بار په ولونه وړم
دا باده زما په لاس کې «الستي ده»
پیدا شوی له ازله یم سرلوړی
د غماز غوندې مې کله زده پستي ده
د دیدن خیرات ژر ژر ویشه په خوارو
د خیر کار کې په کار هر کله چستي ده
مبارک دې د ښکلا هستي تل اوسه
را په برخه تل مودام ماته نیستي ده
ای د حسن زبردسته رحم بویه
د حافظ خواري د عمر زیر دستي ده

۱۳۶۸/۲/۱۰

راډیو انصاري واټ

# زما ځواني

ځواني وه څه د خوب کتل ؤ چې بس تیره شوله
یا خود سترګو رپول ؤ چې بس تیره شوله
وي څه تغبیر به دا زما د نامرادۍ ځوانی
په سرو لمبو کې سوزول ؤ چې بس تیره شوله
که وه د چا ځوانی په خُم کې د شرابو ډوبه
زما په غم کې ډوبول ؤ چې بس تیره شوله
یوه غمژنه حادثه وه د بهار په موسم
د سرو غوټیو ریژول ؤ چې بس تیره شوله
شاعري څه وه لږ ساعت د چا د زلفو په تال
د څو خیالونو زنګول ؤ چې بس تیره شوله
مینه وه څه پرته له دې چې د زړه وینې وخورم
د زهرو ګوټ ؤ تیرول ؤ چې بس تیره شوله
وصل ؤ چیرته وه به دا د یار د هجر شپه
په سر د غرونو اړول ؤ چې بس تیره شوله

۱۳۷۸/۲/۱٤

راډیو لار

# د زړه کعبه

اوس به د مینې ګلې سم ورانیږي
خال په تندي چې د صنم ورانیږي
ګریوانه دوب دې ګرم توپان د اوښکو
د میږي جاله په شبنم ورانیږي
ورنه راتاودې تور پیلان د وحشت
کعبه د زړه مې دم په دم ورانیږي
ګومه دنیا چې اوسیلی ورانوي
نه په ګولی او نه په بم ورانیږي
زوریږي زما د عشق په ولو راځي
د چا پرې څه کمه زیات او کم ورانیږي
خزانه ! ستا د بې رحمی له لاسه
باغچې د ګلو چم په چم ورانیږي
څه خودې شوي د درخو په وریل
نغمه رباب کې د آدم ورانیږي

۱۳۶۸/۴/۱۴

د راډيو لار

# د عشق کعبه

که زما خیته له ازله اوسي
ستا د بنایست دیوه دې بله اوسي

چې د بنو خبرې ژبه وکړي
غماز دې ورک له دې محفله اوسي

کعبې د عشق ته چې لار جوړه نه کړې
پښې مې دې پاتې له منزله اوسي

چې پرې توده وي هنگامه د مینې
اور مې د پورته له گوگله اوسي

زه غوروم ستر گې په لاره ورته
چې راستانه ستا له درشله اوسي

چې مې منظوره قرباني شي د سر
بخته! هغه ساعت په کله اوسي

تو به د هغه اوسیلی له تاوه
چې رابهر د زړه له تله اوسي

۱۳۶۸/۵/۴

راډیو

# داڅه وشو

داڅه وشو دا څه کېږي څه به وشي
ګرانه یاره! یارانه خو داسې نه شي
اې زما د رنګ طبیبه راته وایه
دا غمو خوړلی زړه به څنګه ښه شي
زه خو ستا د مینې اوربل په سر ګرځم
ته زمانه مانړېژن ګرځې په څه شي
ستا د سترګو یوبانه دي هم کوږ نه شي
خیر که غشي مې لک شوي ترې په تشي
غوړېدلې مې لېمه درته په خاورو
نه چې ستا تلي په خاورو کې سپیره شي
بیا به دا د عشق غوغا نه نه وي کوڅو کې
که د مینې لېوني چرته ویده شي
ته به څه کوې د مینې آدم خانه!
که درخو د پښتو بل چاته واده شي

۱۳۶۸/۶/۱۲

راډیو انصاري وات

# د رڼا څرک

څـــــرک د رڼا تـه انـتـظـار کـــــابږم

تـورو تـیـــــارو کې د ژونـد لار کـــــابږم

چې مې يو ګل نشـــــتـــــه د ژوند په بڼ کې

مـنـت بـه څـلـه د بـهـــــار کـــــابږم

هیـــڅــوک په غم راســره نه شــو شــریک

پـه یوه ســـــر دغـــــه نـاتـار کـــــابږم

وران کـــــړي څــــوځـلـه بـاران د اوښکو

چې په کــاغــذ دغــه اشــعـــار کـــابږم

چې مې تـرڅــــو قلم په ګــــوتـوکې وي

نـوم د جـــــانـان بـه پـرې بـار بـار کـــــابږم

حــــافظ ګـلـونـه ټـولـووم د شــــعــــر

غــارې تـه ســتـــا د ګـلـو هـار کـــابږم

۱۳٦۸/۸/۲۹

شاه شهید کابل

# د مینې راز

لکه چې خوار وم هسې خوار پاتې شوم
ستا د دیدن په انتظار پاتې شوم
نوز د وصال منزل ته ورسیدل
زه د بیلتون په نیمه لار پاتې شوم
طبیبه! راغلې لا ړې څه دې وکړل
زه لا هم هغسې بیمار پاتې شوم
په اوسنې یاری کې ګټه نشته
خوشې په تمه د ربار پاتې شوم
د زړه باغچه مې لا خزان پرته ده
هسې په هیله د بهار پاتې شوم
د مینې راز مې پوره ونه ساته
دا چې رسوا په سردار پاتې شوم
صیاد تړلي دي وزرې راته
چې بې نصیبه له ګلزار پاتې شوم
فریاد د خوږ مې چاته ونه رسید
که تر سبا پورې بیدار پاتې شوم

د خپلو اوښکو په تاو ښه پوخ شومه
لکه کباب په تنره انګار پاتې شوم

نرخ يې له ځمکې نه آسمان ته وخوت
زه چې د حسن خريدار پاتې شوم

ملګري تول منکر د مينې نه شول
بس خو يوزه په کې اقرار پاتې شوم

آسمانه ! ستا د بې رحمۍ وځنې
د زره له زوره وار په وار پاتې شوم

جنون نه غورمې ستا په غبرابيني دی
ناست يوې څنګ ته تيار پاتې شوم

د بياره حسن ته يې ونه غوښتم
داخو په لسه د اختيار پاتې شوم

بې نيازمې نه اخلي د پيازو په نرخ
د بې عرضيو په بازار پاتې شوم

۱۳۶۸/۹/۶

# د وحدت شمع

اقبال چې د اقبال په براق سپور راغی محفل ته
مستي راغله جذبه راغله او شور راغی محفل ته

بې واره یو پر بل پسې جامونه تشوي
قربان دې شم ساقي عجب مې خور راغی محفل ته

زاهده ! اوس دې تېنګه کړه پګړی د تعقل
د مینې لیوني چې نن سرتور راغی محفل ته

دارو ورسره شته د بې خودی د رنځورانو
طبیب غونډې حبیب غونډې غمخور راغی محفل ته

چې ویې لیدله بله دلته شمع د وحدت
پتنګ غونډې د مینې سوی سکور راغی محفل ته

ګوتلي یې پوره ؤ د ازل په پیمانه
له ځانه بې خبر غونډې نسکور راغی محفل ته

اوس تېنګه میکده کړه چې خمونه چپه نه شي
د څیرې ګریوانونو کلی کور راغی محفل ته

راځه ښکلیه ! دلته چې هرڅه دي ښکلي ښکلي
لتا سره د رڼا رشم ښایست نور راغي محفل ته
حافظه! سازد روم او د تبریز او د خیبر
یوځای شو د زخمي زړونو تکو راغی محفل ته

یادونه : د ۱۳٦۸ کال د روژې د میاشت ۸ شپه خوب وینم چې د یو شمیر روحاني او عرفاني شخصیتونو ترمنځ استاد حمزه شینواري ناست او د سلوک او تصوفي ادب په باب خبرې کیږي چې په دې کې له کومې خوا ډاکتر علامه اقبال راښکاره شي . د هغه په راتلو د ټولو سترګې د هغه خواته واوړي . په دغه وخت کې استاد حمزه ماته ووایي چې حافظه ووایه د اقبال په استقبال کې یوڅه ووایه چې د استاد ددغې وینا سره سم زما په خوله د پورتني غزل مطلع راشي.

# د اوښکو باران

باران د پسرلي سره ګلونه راوريږي

ګلونه راوريږي او رنګونه را وريږي

د تالندې بريښنا د تنګ تکور په انګازو کې

په کمانو پوتو پورنګ ته حسنونه را وريږي

تول خلک خوشالي کړي نه پوهيږم چې داولې

په ما غريب دلي دلي غمونه را وريږي

فرياد له هر کوره پورته کيږي شپه او ورځ

زموږ په کلي کور باندې غمونه را وريږي

حافظه که په نورو شي باران د سرو ګلونو

زموږ په سرو باندې اورونه را وريږي

١٣٦٨/١٢/١

# د چا یادونه

په زړه مې بیـــا د چا خـــواږه یادونـه را.وریږي
یـادونـه راوریـږي کـــــــه ګـلـونـه را وریـږي

مـــاوې چې بـه یوازې اور د ځـمکې په مخ بـل وي
آسـمـانـه ستـا لـه ستـرګـو هـم اورونـه راوریږي

خـوښي ده خـوشـالي ده د دنیـا پـه کـور او کلي
دا خــوار کلي زمــوږ دي پرې غـمـونه را وریږي

څوک مري له ډیرې لوږې پرې خواري د ځنکندن ده
په چا د من سلـوا نـعـمـتـونـه راوریږي

زمـــا د هیلـو ځـــالـه به پرې ولې لمبـــه نـه وي
شـیـبـه شـیـبـه سکروټې بارانونه را وریږي

ته ښاست اوسـه په امن کې د شیش مـحـل خـاونده
زمـا پـه خـواره خـونـه دې بمـونـه راوریږي

پـه مـوږ خـو تـل راتلونکې مـرحلې دي د زحـمت

ای ربه ! دا په چا ستا رحمتونه راوریږي

یوڅه خود دیدن باران په دي خواکړه راستون

اشنا په زړه مي دېر ستا دیدنونه راوریږي

زه نه یم شرابي په بل پلوګي اړوه

له سترګو دي قربان شم ترې جامونه راوریږي

طبیبه ! هسې خوشې دي ځان مه بد ناموه

زمونږ په کوراو کلي ټول دردونه راوریږي

کوڅه د لیونوده ترې په ډډه ځه حافظه

مودام دلته کېږي څیري ګریوانونه راوریږي

۱۳۶۸/۱۲/۲۸

د عبدالصمد خان اڅکزي سیمینار آریانا هوټل کابل

# د درې ورځو مېلمانه

پرون راغلو نن دلپښتاستانه يو
دنيا ستا په کور درې ورځې مېلمانه يو
د پلونښې به مو وي او مور به نه يو
مور ملګري د فنا د کاروانه يو
چې دا ورځې لږ خپرې شي مور به هم ځو
پنا شوي دلته لږ له بارانه يو
زر سپرلي که راشي لا ړشي نه غوړېږو
مور سېزلي سرو لمبو د بېلتانه يو
د مرګي د سيند څپو يو را اخستي
نه درېږو نه ستنيږو په يانه يو
نن سبايي په مور ستړګې درنې شوي
اوس پوه شوي مور په نيت د کوربانه يو
ده څرګنده راته ستا د اجل هنده
مرګه ښه خبر شه مور هم پښتانه يو
زمور لاره د حق لاره ده حافظه!
مور د سپکو پسې نه ځو چې درانه يو

۱۳۶۹/۹/۱۹

روژه ۱۳ نيته شاه شهيد د ګهيځ اوه بجې

## د حُسن غل

اورشومه د مینې په زړه بل شومه
ماوې زه به ژوند شمه اجل شومه
شمعې په سلګوکې پتنګ وسیزه
داځکه محفل ووم چې مقتل شومه
هسې رنګ معمی شوم چې حل نه لري
جړشومه جوړستا د زلفوول شومه
خوا د رقیب ښه راباندې یخه شوه
ښه د بیلتانه په ژرنده دل شومه
ستا د مخ د نمر وړانګې چې تتې شوې
ورک شومه د شګې د مخ ځل شومه
ملامې ستا د غم پیتې رماته کړه
ناست یمه په ځای په پښو شل شومه
شومه ګنهګار توبه مې ماته شوه
څه وکړم چې بیا د حسن غل شومه.

۱۹ / ۱ / ۱۳٦۹ روژه ۱۳ شاه شهید کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشې

ځي دې له مخه د جمال پلوشې
خورې دې هر لور د کمال پلوشې
د پتنګ سوی ګوګل ګورې کنه
ای د جمال ای د جلال پلوشې
کړې رنګينه مې د خيالونو دنيا
چې راکړې دې شي د خيال پلوشې
د سبا ستورې ته رڼا ورکوي
د وروځو منځ کې ستا د خال پلوشې
حُسنه قربان دې له جلوځنې شم
لا دې زيا تيرې کال په کال پلوشې
څوک به دې څنګه مخ ته وکړي نظر
بريښوي سترګې دې د شال پلوشې
لکه د ګل هسې تازه اوسه تل
ای د حافظ د قال او حال پلوشې

۱۳۶۹/۱/۲۷

شاه شهيد کابل

# د اوښکو پشه کال

د کعبې په سر ځړېږي د تا زلفې
بتکدې کې هم غورېږي د تا زلفې

پرښتو ته جوړ تالونه شي پرې زانګې
چې په ملا باندې زنګېږي د تا زلفې

زه «ایوب» به ستا وفا کړم څنګه هیره
«رحیمې» غوندې خرڅېږي د تا زلفې

د دوزخ د تورو کندو مې دار نشته
چې مې لاس ته را رسېږي د تا زلفې

مخ دې څه دی جوړ سپوږمۍ د څوارلسمې
تور ماران ورته تاوېږي د تا زلفې

پرې راښکته به د اوښکو پشه کال کړم
که په دې راتازه کېږي د تا زلفې

١٣٦٩/٢/٥

# زموږ په کلي

داغـــه غم دی چې راغـي زمـــوږ په کلـي
څــه ستم دی چې راغي زمـــوږ په کلي
کــــه په نوروکلیــــو شي باران د گـلو
راکښته بم دی چې راغـي زمـــوږ په کـلـي
په دې غم مـــوخــولا يـخـــه د چانـه ده
وايـي کـم دی چې راغـي زمـــوږ په کلـي
خـونړی سيـلاب د مــرگ په غـورزنگو دی
گـــوري سم دی چې راغي زمـــوږ په کلـي
انـگـولاده فـــــريـادونـه دي ژړاده
لوی مــاتم دی چې راغي زمـــوږ په کلـي
يـوغم نـه دی چې زمــــوږ په کـلـي راغـی
دم په دم دی چې راغي زمــــوږ په کـلـي
کـه بلا کـه مـصـيـبت دی نه ځي بل خـوا
څـــه رقم دی چې راغي زمـــوږ په کـلي
ای حـــافظه د غـــــه توره بـلا ويـنـې
هو ! قـــسم دی چې راغي زمـــوږ په کـلي

۱۳٦۹/۲/۳۰

راډيو انصاري واټ

# د زړه وطن

سرې لمبې د اور به شي انګار به شي خوړلن به شي
مه سرې کوه شونډې چې ايرې د زړه وطن به شي

مه توره سترګې چې هوسۍ به ورنه تور وخوري
جوړ له دغه وران کلي ما لت ځنې ختن به شي

ځار دې شم قربان دې شم د تللو راته مه وايه
غم د ګريوان نه خورم خيشت په اوښکو پراهن به شي

مه ګوابنوه ورو ځې تيرې تورې دې پرې مړ به شم
ياره ! در په غاړه غم د غسل او کفن به شي

مه ښوروه دا تورې بلا پرتې ويدې ښې دي
زلفې دې که خوشې کړلې دار به شي رسن به شي

ګلې ! که په دغه آب و تاب ګلشن ته راغللې
ګونګ له حيرانۍ ځنې په سل ژبو سوسن به شي

چرته که يې وليده زما د زړه د وينو رود
زر ځله بيزار له خپلې مينې نه کوهکن به شي

دا له سوز او سازه ډک غزل چې حافظ وايه
شور به شي مستي به شي ناره به شي شيون به شي

د مشهور شاعر مٌعين سيد حسن «حسن» د يادولو په غونډه کې
راډيو ۱۳۶۹/۳/۱۰

# د حیرت گوتې

هیره یې نکړئ د جانان کیسه مې بیا را واخلئ
هغه د مینې د ارمان کیسه مې بیا را واخلئ

چې ټول جهان یې اوریدلو ته دی غوږ نیولی
د لیونی څیرې ګریوان کیسه مې بیا را واخلئ

چې په ګوګل کې کړې پاسته یوځه د تیرو زړونه
هغه د اوښکو د باران کیسه مې بیا را واخلئ

چې د تنکیو سرو ګلونو له مخ رنګ وتښتي
جوړ په سپرلي کې د خزان کیسه مې بیا را واخلئ

چې په زندان کې ورته راشي زلیخا د مینې
هغه د مصر د کاروان کیسه مې بیا را واخلئ

چې د حیرت ګوتې په خوله کې ورته شي د عالم
هغه د حسن د دوران کیسه مې بیا را واخلئ

۱۳۶۹/۳/۱۷

# د فریاد ډیوه

راځئ چې په محفل د چا د یاد ډیوه کړو بله
ډیوې د ښا د وېلې د ناښاد ډیوه کړو بله
راویښ چې کړو له مخې خوبولې سپوږمۍ ستوري
کوڅو کې د اسمان به د فریاد ډیوه کړو بله
شي جوړه هره خوا به له ښکلا ډکه دنیا
د زړونو په محل کې که د داد ډیوه کړو بله
اباد دې وي په خپله ابادۍ کې تل خوشحال
همت وکړئ چې لږ خود برباد ډیوه کړو بله
شي وړانګې به یې تیرې د شیرینې تر محله
د سرو وینو په رنګ که د فرهاد ډیوه کړو بله
شي . بچ له تیندکونو به بې شمیره نامراد
که موږ ورته په لاره د مراد ډیوه کړو بله
چې ډیر نه شي دا خیري ګریوانونه نو راځئ
چې ژر ورته د مینې د بنیاد ډیوه کړو بله
ترڅو به توره شپه وي راخپره زموږ په ذهن
رڼا به شي که چیرته د سواد ډیوه کړو بله

۶۹/۶/۱۲ - راډیو

# د حسن یرغل

چې په غوسه شي کږې وروځې دې خنجر غونډې شي
بانه د سترګو دې صف وړې لښکر غونډې شي

چې مې د زړه په تا تره راشي یرغل د حسن
زما ګوګل ورته لوی غرشي د خیبر غونډې شي

چې مې د روح په تخته یاد د چا د مینې راشي
اوښکې مې لارې پر مخ جوړې کړي مسطر غونډې شي

ته چې په لاره قدم کیږدې د رقیب په قدم
نادانه یاره هغه دم په ما محشر غونډې شي

چې بې د ستا له دره ځي په بل در سرلګړي
په دین دنیا هغه بیشکه در په در غونډې شي

هله به هار شي د چا ښکلې محبوبا غاړې ته
چې د لاله په شانې تور داغ په ځګر غونډې شي

په اور ژوندی وي او خوراک یې د اور سکروټې
چې را پیدا د اور په منځ کې سمندر غونډې شي

دواړه جهانه ځاروي د نیم نظر له سره
چې د حافظ په شان په عشق کې قلندر غونډې شي.

۱۳۶۹/۱۱/۱۵

راډیو (حافظ)

# د حُسن گلان

مورِه د شعر له کوره ځو خو غزل ځان سره وړو

بلې دېوې د پتنگانو اجل ځان سره وړو

څُه مو چې کړي په دنیا کې هغه دلته پرېږدو

ښه وي که بد وي دا ناچیزه عمل ځان سره وړو

چې هلته هم پرې نغري تود د محبت پاتې شي

مورږ به د مینې د لمبو خپرول ځان کره وړو

پرې لنډوو به د سپیرو د ښتو اوږدې مزلې

بس خو همدغه به توښه د منزل ځان سره وړ

چې پرې ښیرازه او تازه وي ستا د حسن گلان

د ترمو او ښکو د باران ورول ځان سره وړو

۱۳۷۰

آریانا هوټل د احمد شاه بابا سیمینار

# د حُسن کوڅه

لنډه زما د غم کیسه خونه ده
نیمګړې پاتې ده پوره خونه ده
د ستار شرنګ د ټپو رنګ په کې شته
ورانه زما د زړه دیره خونه ده
چې د جنون د سجدو وار پرې نشته
درشل د مینې دی کعبه خونه ده
واک مې د زړه ورته په لاس ورکړی
د کور میرمن ده میلمنه خونه ده
هسې ګیلې مانې ترې څله کوئ
ښکلې به وي نو پښتنه خونه ده
کوڅه د حُسن ده تیندک ونه خورئ
دا تورې زلفې دي څه شپه خونه ده
په سره سالو کې شوه کبره له خیاله
د ګلو لښته راکبره خونه ده
پام کوه ګوره چې پرې تیر نه وځې
دا یې سرې شونډې دي لمبه خونه ده
دلته پیالې په سرو مه ماتوئ
د جانان کور دی میکده خونه ده
ریباره وایه درنه وګرځمه
درته یې کړې څه ګیله خونه ده
شته د حافظ زړه کې د ژوند سازونه
خوشې د مړو هدیره خونه ده

« د یوې طرحې مشاعرې په لړ کې»
۱۳۷۰ راډیو

# د حُسن گودر

زېړ غر د مازديگر يم د سپين غر په سر ولاړ يم
بنو نه دي قربان ستا د نظر په سرو ولاړ يم

لويدلی يمه نور په ټوله سيمه ما بنا مې شو
يوه شيبه د حسن د گودر په سر ولاړ يم

رسی د تورو زلفو دي په لاس کې راکوه
درځا رشم مينې هله د کمر په سر ولاړ يم

شايد چې شم د حسن نظر ماتې د اشنا
لوگی شوم سپيلنی شوم د مجمر په سر ولاړ يم

حيران يم ننداره ته د جمال او د جلال
په څوکه د شمشاد د جگ خيبر په سر ولاړ يم

ما مه پوښتئ که پوښتئ نو جانان مې وپوښتئ
په کومه گناه هسې د محشر په سر ولاړ يم

که گرمه هنگامه شوله د عشق د قربانۍ
له ټولو به زه څو قدمه بر په سر ولاړ يم

۱۳۷۰/۱/۵ کور شاه شهيد دوشنبه د روژې ۹ نيته

# د اوښکو ملغلرې

چې بسمل د یار د ستر گو په خنجر شي
د جنت تر وره به بې پوښتنې ورشي
هله پورته شي د عرش له کنگرو ته
هغه سر چې رانسکور د یار په در شي
زه به خپله نغمه هیڅوخت سره نه کړم
که سکاره مې په پنجره کې بال و پر شي
هیڅ بلبل به په گل شور غوغا ونه کړي
که پتنگ غوندې د عشق په راز خبر شي
غوره چاره په اوس وخت له دینه نشته
هغه څوک چې پوه د مینې په هنر شي
بیا مشکینې زلفې وڅنډه له نازه
چې د ماغ پرې د عشاقو معطر شي
ترې لوگی به کړم د اوښکو ملغلرې
که پخلا مې پرې د مینې مرور شي
د همت متې مې شته که مزوری نه یم
رانسکور مې که د سر له پاسه غر شي
هر فرزند چې زنداني لکه یوسف شي
د کمیس بوی یې د پلار نور بصر شي
چې د شپې د ظلمت تور څادر کې څیرې
په جهان به لکه نمر هسې انور شي

«د دري ژبې د مشهور شاعر محمد انور
بسمل په یاد» ۱۳۷۰/۴/۲۳

# د غزل رنا

غـــزل ښـــا یست دی هم ښکلا ده غـــزل
زه یم مـــجنون زمـــا لیـــلا ده غـــزل
خـــوب مې غـــزل ویښـــه غـــزل ده زمـــا
هـم مـې خـنـدا هـم مـې ژړا ده غـــزل
یـارانـو تـاســـو چې څـــه اخلئ واخلئ
بـرخـــه ازل ځـنې زمـــا ده غـــزل
د زړه لـه کـــوره مـې تیـــارې تلـلې دي
پـه کـې د یـوه رنـا رنـا ده غـــزل
رقـــیـــبـــه ! څله یې لوټې راځنې
زمـــا د ټول عـــمـــر ســـودا ده غـــزل
پـرون مـــې هـم د زړه پـه ویـنـو لـیـکـه
نـن هم غـــزل او هم ســـبـــا ده غـــزل
تـه کـــه ښـیـرې کـــوې کـــوه یې راتـه
جـوړه زمـــا پـه خـوله دوعـــا ده غـــزل
ســـتـــا ســـو دنیـــا لـه گلو ملو ډکـــه
جـوړ د حـــافـظ د زړه دنـیـــا ده غـــزل

۱۳۷۰/٤/۲٦

# د دیدن مینه

را په لاس چې د ساقي د میو جام شي
دغه جام کې مې تمام د ژوند ناکام شي
د تذویر دانې دې دیرې پرې شیندلي
زمانه راته په هر قدم کې دام شي
مرتبه به له دې پورته چرته مومې
چې د ښکلیو په درشل کې څوک غلام شي
چې شي سرو په لیونۍ د دیدن مینه
د ریبار هره ادا د یار پیغام شي
تول اومه په خپل خپل وار باندې پخیږي
نه پخیږي هغه څوک چې عشق کې خام شي
نیک نامي د هغو کله په نصیب شته
چې په مینه د آشنا کې څوک بدنام شي
د ګریوان ریښې مې هرې خواته زانګي
ددې ښار په لیونیو د چا پام شي
سپوږمۍ مخ له شرمه پټ کاندي په وریځو
راښکاره چې هغه میاشت په سر د بام شي
د رنګ ساعت ته دې حضور ته حاضریږم
په تکل د مینې سل میله یو ګام شي
په آرام به مې د زړه د هوس اس شي
ستا د سترګو د ورشو غزال که رام شي
دا اثر د کوم نظر دی نپوهیږم
چې حافظ کړي یو د مینې بل «الهام» شي

۱۳۷۰/۵/۱۱

د استاد الهام د ۶۰ کالیزې محفل

# د ويراو غم کوڅه

ته خوراتلې زما پوښتنې ته ستنه ولې شوې
د غمنو ازانو په لمسون رانه خپله ولې شوې
شيريني ستا له خوږو شونډو خونبات د وړيدل
د شمکې د ګوټ په شان راته ترخه ولې شوې
ما دې لاس په ښکلې زنه باندې نه ؤ ايښې
شوې د ګل پانه له حيانه تکه سره ولې شوې
شمع زما د زړه د کوردې په سلګو پرېښوده
د رقيب کورکې راته وايه ميلمنه ولې شوې
د مينې ګله : زه دې تل تازه په اوښکو ساتم
د چا له غمه هسې مړاوې پژمړه ولې شوې
دې غلې شوې تاکې څه د ليونيو چغې
د عشق مالته دا د ويراو غم کوڅه ولې شوې
زه د فراق د اورډو شپو تورو تيارو وخوړم
ته د پردو بزم ته بله شان ډيوه ولې شوې
لنډه شنه ژرچې مې د يار سترګو ته خوب راغلی
ای د حافظ د غم کيسې هومره اوږده ولې شوې

۱۳۷۰/۸/۲۳ راديو

# د ارمانونو دنیا

نوره زما د ارمانونو دنیا مه ورانوی
د دې ننګو ننګو ګلونو دنیا مه ورانوی

ای د وحشیت د اور دیوانو نور چې هر څه کوی
خو د معصومو پاکو زړونو دنیا مه ورانوی

لږ مې د څمڅرې ګریوانه د ریبنوروی ومنی
د خوارو زارو امیدونو دنیا مه ورانوی

د شومه دم د نیمو شپو د تورو مو په یرغل
د چا د مینې د خوبونو دنیا مه ورانوی

زارۍ خوارۍ ورته کوم بیرته به جوړه نه شي
وا د شاعر زړه د خیالونو دنیا مه ورانوی

ای د خزان ترخو سیلیو د سره ګل په زړه کې
د څو خوږو خوږو یادونو دنیا مه ورانوی

پریږدئ چې جوړ مې ګریوانه کې توپانونه شي تیري
زما د اوښکو د رودونو دنیا مه ورانوی

۱۰،۹،۲۰

# د دیدن لاوې

مینې جوړې ستا په رضا چارې شوې
خلاصې د اشنا د دیدن لارې شوې

اوښکو مې د چا د راتلو واوریده
ودریدلې سترګو کې حصار شوې

تیره چې ښکالو شوه د ربیار د یار
هیلې خوبولې وې بیدار شوې

واخسته جذبو مې د همت امسا
پورته له بستر څخنې بیمارې شوې

څومره یې چې تنده کړه تروه په ما
شونډې یې خوږې شوې مزیدارې شوې

خیر د دیدن غوارې درویزه کوي
هومره د مینو برخې خوارې شوې

جوړ چې د غزل بازار حافظ کړلو
ښکلې یې له مخې خریدارې شوې

۱۳۷۱/۱/۱۹

وزیر اکبرخان پارک

# کابل ته

ستا د زړه په خوږ پوهیږمه کابله
چې سم تا سره ژړیږمه کابله
زما روح زما بدن یې زما کور یې
ستا د خوږ سره خوږیږمه کابله
داکوم اور چې نن د ستا په تن بل دی
زه هم دې اور کې سوزیږمه کابله
د مرگ سیوری دې فضا په سر اخستې
په تا هسې رنګ ویریږمه کابله
یو له بل نه یو خوا بل له بلې په تا بلوسي
دغه کار ته حیرانیږمه کابله
د افغان د اتحاد لویه مرکزه
که ته وران شوې زه ورانیږمه کابله
که په بن دې د خزان سیلۍ شوه ګډه
لکه ګل به ورژیږمه کابله
چې د ستا په وجود هره ګولۍ لګي
لکه زه چې پرې لګیږمه کابله
دنیا څه کړي او اخته یو مونږ په څه کې
د خپل ځان پورې شرمیږمه کابله
خو سیلاب د پسرلي دی سیند کې دروځي
د رنګ ساعت په کې دوبیږمه کابله
ستا د غم غشي مې لک د زړه په سر دی
د ریدی نه شمه لویږمه کابله.

۱۳۷۱/۲/۲

# د کابل گلونه

د اور په سرو لمبو سوزيږي د کابل گلونه

د پسرلي په وخت رژيږي د کابل گلونه

راغله بې وخته پرې سيلۍ د څه نا ترسه خزان

داسې چې مراوې مراوې کيږي د کابل گلونه

بلبله خواره ته په څه څورند وزرې ښکارې

د چا وربل ته نه رسيږي د کابل گلونه

د وينو رنګ د وينو بوی په کې خسوده پروت وی

چې په سرو وينو راټوکيږي د کابل گلونه

دا د مالي له لاسه شوي نا پرسانه ښاره

نن چې وريا تاکې خرڅيږي د کابل گلونه

څوک څه خبر دي پدې وخت زما د زړه له اوره

چې ورته ګورم تالا کيږي د کابل گلونه

دا خو ديوې څه په مزار د شهيدانو نه دي

د زړه د اور په تاوبليږي د کابل گلونه

راوریدلي پرې د چا د مــــباتم اوښکې نه دي
په خـــپلو اوښکو کې لـــیـــبرې د کــابل ګلونه

مــاته زمــا د زړه ټوټه ده هره پانه د ګل
تاته به ښـــه رنګه ښکاریږي د کــابل ګلونه

چې پټـــوي په مــراو پاتوکې خـپل زیږ مــخــونه
دا خــو په ښـان پورې شـرمیږي د کــابل ګلونه

مــاته صـفت ځله کـــوې ته د جـــهــان د ګلو
خدایږو چې دیر دیر مې یادیږي د کــابل ګلونه

هغـه زمــا د مــینتــوب د یارانې زیبــاران
ګله زمــا ښې هیــریږي د کــابل ګلونه

«حافظ» به نه وي کـه بیا راشې پسرلي د ژوندون
بو په چې بیا پرې وغوړیږي د کــابل ګلونه

۱۳۷۱/٤/۵ ګور شاه شهید

د ورځې دوه بجې

# ځله راتلې

چې مې د زړه درد ته دوانه شـوې نو ځله راتلې
مـرور یاره چې پخـلا نه شـوې نو ځله راتلې
ستا په راتلو مې د تور بخت ترورمې لا زیاتې شوې
چې توره شپې ته مې سبا نه شوې نو ځله راتلې
غم دې زمـا ښـادې نوروته په برخـه کـړله
زه به دې څـه کـړم چې زمـانه شـوې نو ځله راتلې
دې خـپل د عـمـر ژړیدلي کـړیدلي سـره
چې تش له نازه په مـوسکانه شـوې نو ځله راتلې
مـاوې راتبولې به ریښې کړي د مـجنون د گـریوان
د حسن مـیـرې چې لیـلا نه شوې نو ځله راتلې
د سـر ببـرو تالا شـوو لیـونو په مـینه
چې کـور او کلي کې رسـوا نه شـوې نو ځله راتلې
په آخـرت کې خـو بیل بیل دې دهر چاکـور ونه
نن چې په کـار مې په دنیـا نه شوې نو ځله راتلې
مـا ستـا په مـینه کې لیـدل د پاچایۍ خـوبونه
په سـر مې سیـوري د هما نه شوې نو ځله راتلې
چې یې راغلې په کـوم لار ورسـره بیـرته درومـه
چې له رقـیـب ځنې جـدا نه شـوې نو ځله راتلې
تالا ترغې د «حـافظ» خـوارې زارې هیلې شـولې
چې ته خـبـر په دې تـالا نشـوې نو ځله راتلې

۱۳۷۱ / ۵ / ۳

کور شاه شهید کابل

# مور چا مړه کړو ؟

نه زلزلې او نه توپان مړه کړو
زلې د اور راکټ باران مړه کړو
داسې کاپړو او پردو مړه نه کړو
لکه چې خپل وروور مسلمان مړه کړو
عرض به د چا دربار ته ورسوو
په دروازه کې چې دربان مړه کړو.
څه به کوو خلکه له غلو نه ګیله
مور خو ښاروان د دې کاروان مړه کړو
ځمکې هم راوسته په موره مرګو
که آفتونو د اسمان مړه کړو
غریبو مړه نه کړلو خوارو نه کړو
مور امیرانو د دوران مړه کړو
لیوانو ونه خوړو مات یې نه کړو
خو د انسان په نوم انسان مړه کړو
وي به ضرور د غمازانو لسون
داسې له مخې چې جانان مړه کړو
د چا د زهرو په ترخو مړه نه شو
خوږو خبرو خوږبیان مړه کړو
چې دین یې ورکړ د دنیا په بدل
بس خو همدغه بې ایمان مړه کړو

په ژوند مـــو ولیـــدي لمبې د دوزخ
د وخت بې وخـتـه اســتـغـان مـره کـړو
د ژوند سـپـرلي ته مـــو خندلي نه و
تنګي ګـــلان وچې خـــزان مـره ګـړو
قـــربـاني نه شـــو د وطن له ســـره
شـخـصي قـدرت ګـټې د څـان مـره ګـړو
چې د وحـدت لاره مـــو پـرې نـسودله
بیلتـــانـه وغـــرور هجـــران مـره ګـړو
چې لیـــوني وربـوري هم خـــانـدي
هغـه دلیـل هغــه برهان مـــره ګـړو
پوره به نه شي تر قـيـــامـتـه پوري
خوشې وعـدو چـټي پـيـمـان مـره ګـړو
ګـــورئــو هم په مــور صـــرفـــه ونه ګـــړه
کـــه نا بللي شـــان مــهـــمان مـــره ګـړو
۱۳۷۱/۸/۱۰ رادیو کابل
انصاري وات

# د تصور کښتۍ

دا دنیـــا راته د اوښکو ســمندر شــوه
په کې ډوبه مې کـښـتـۍ د تصـور شـوه

د ســاحل په هیله ښکتـــه پورته غــغلم
رانه عـشـقـــه اورکـه نبـــه د ګـــودر شـوه

په دریاب کې د ســـــراب په لـور روان یم
په هر مـــوج مې تنده مـــاته د نظر شـــوه

دا د کـــوم بانه شـــتۍ وه نیـــو هیـــرم
چې رســا مې هسې خـبـــه په ځګر شـــوه

مـبـلمنې مـــینې مې څـــه کـانې راوکــړې
یوځل راغله د زړه کـــورته بیـــا بهـــر شـــوه

چې داســـتـا د زلفـــو شـــپې په اوږدیدو شـــوې
افـــسـانه زمـا د مـــینې مـخـتـصـر شـوه

زه حـــافظ چې دا په چغـــو چغـــو ژاړم
برخـــه خـواره نن ســـبا کې د هنر شـــوه

۱۳۷۱/۹/۲۱

# د پیرۍ امسا

د ځوانۍ شپې مې سبا راته پیرۍ کړه
لار تیاره وه خو رڼا راته پیرۍ کړه
د پرون د ځوانۍ خیال مې خندنی شو
را په لاس چې نن امسا راته پیرۍ کړه
چې هوس د ژملیستوب مې د روغ بلله
هغه چاره اوس ربنتیا راته پیرۍ کړه
چې په عمر مې لیدلې چرې نه وه
پیښه هسې شان سودا راته پیرۍ کړه
جوړ کسات مې د شباب له مستۍ اخلي
داچې مات هسې ملا راته پیرۍ کړه
په هنر د ژوندانه راته ولاړه
را دوچاره څه بلا راته پیرۍ کړه
آه ، فریاد ، ژړا ځیګروي مې شو په برخه
وچه شونډو کې خندا راته پیرۍ کړه
چې په خوب او په خاطر مې تیره نه وه
نا آشنا کیسه آشنا راته پیرۍ کړه
د هجران په اوږده لاره ما حافظ ته
په مرۍ کې بنده ساه راته پیرۍ کړه

۱۳۷۱/۹/۲۱

# هغه کابل چیرته دی؟

ملګرو! تاسو چې لیدله هغه کابل چیرته دی؟
ازغی ازغی دی چمن تول په کې بوګل چیرته دی
چې به له خیاله په کې ایښی و سل رنګ ګلونه
په کېږو ورځو خور له نازه تور وربل چرته دی
چې پټسوي لاله له شرمه ترې د زړه داغونه
بس څو همدغه زما زړه دی ګرانه بل چیرته دی
دې تور کارغان راخواره شوي په سپیرو باغونو
هیڅوک نه وایي چې په زړه سوری بلبل چیرته دی
زمانه څومره بې حیا شوه ورته فکر وکړئ
په زوره زوره غل ناري وهي چې غل چیرته دی
چې به کیدې په کې هر خوا مظاهرې د حسن
هغه پتنګ هغه ډیوه هغه محفل چیرته دی
مور خوارو زار و چې د مینې کوه طور بللو
په سرو لمبو کې ایره پروت هغه محل چیرته دی
پام چې تیر نه وځی آشنا پرې لږ څه سوچ په کار دی
خبرې ډیرې دي د خولې خوشې عمل چیرته دی
راروان شوی یم د مینې د منزل په تکل

کمزورې پښې مې مزل سترې کړې منزل چیرته دی

تالاترغې د پښتـانه حُسن جـونګړه پرته

هغـه او ګی هغـه ښنګړی هغـه هیکل چیـرته دی

پیـغلو اغـوستې دې د غم تورې جامې له مـنځې

د سـرو پورنو د ګـودر په سـر وربل چیـرته دی

چې دې ستـا یلې وې غـزالې ستـرګې د یرې په کې

شاعره ! ستا د زړه په وینو لیک غـزل چیـرته دی

رحمـانه ! اوس حافظ په در، د رته ځولی غوړوې

بې سـتـا له دره یې د خـوږ زړګې تسل چیـرته دی

۱۳۷۱/۱۰/۲۹

کله چې له کابل نه د خپلې کډې سره د یو وخت لپاره

جلال آباد او بیا پیښور ته تلم .

# چې له کابله راوتم

چې له کـــــابلـه را وتم نـو ژړیـدم راتـلـم
پـه سـرو لمبــو کې له حـســرته ســوزیدم راتلم
بـیـه پوهیــدم چې د بیلتـون د بلا خـولې ته ورغـم
د مـــــینې لاړ وه پـه کې هیـڅ نـه ویـریدم راتلم
د زړه ارمـان مې ورتـه خـاوري شـو د خـاورو سره
چې د الفت د مـــزار خــواکې تیـــریدم راتلم
چې پـه گـولو شـهیدې شـنـاختې مې لـه سترگو ځـولې
پـه غــوږولو بینـا ســتـــرگـــو ړندیدم راتلم
پـه سـر مې بار زاوره د ژوند د نـاخـوالیــو گـډه
د بوړمکو غمـلـوندې له غـمـمـمـه تـاویدم راتلم
چې مې کـتـل پـه هـره خوا تـازه تـازه زخـمــونه
لـکـه لالـه د زړه پـه وینو لمــبـیــدم راتلم
د ســوزیدو د ورکـیـدو سـوداً مې ته وه زړه کې
وم یـو پتنگ پـه سـر د شــمـعې چورلیـدم راتلم
غـمکه لـه لاندې وه سره شوې آسـمان پاس سور وه
خـام پـاتې نـه شـوم پـه دې اور کې پخـیـدم راتلم
وصـیـال لمر مې چې له سـره ورانـگې دارولې
د شگې گل شـوم له نظر ورکـیـدم راتلم
۱۳۷۱/۹/۲۹

کابل پلچرخي

# جلال آباده !

جلال آباده تاکې هغه جوش وجم نشته
جام دې پریوتی دی نسکور ځکه چې جم نشته

چې پریوتل به یې پښتوکې د یر مغرور سرونه
هغه د حسن په غرور غره صنم نشته

چې نڅیده ورته سر توره د رخسانی د مینې
هغه د سوز نغمه رباب کې د آدم نشته

راشه مسیحه! دې دخدای مخلوق ته دم وښه
بې دمه مړه زړونه پراته دې په کې دم نشته

د حاتمانو د کرم دروازې پورې وینم
یوه ذره یې کورکې نښه د کرم نشته

جوړه به خود راځي زما په خوله د غم سندره
داسې کور نشته چې ناري په کې د غم نشته

هسې چې وګورې د ځیرو ګریوانونو خواته
رحمه چا سره په زړه کې هومره هم نشته

خزلې شته دي ازغي شته چې پرې ړنديږي سترګې
خــزان وهلي تيول ګلونه ســتــا د چم نشـــتــه

چغې نارې دي فــريادونه دي ځــيګروي ورســره
زخـمونه شتـه دي خـو سوداېي د ملهم نشتـه

چې په زور نـظر مې وكــتــل د وخت ملګري
لكه مېـاران كــاږه په لاره درومي سم نشـتــه

چې يې د غم اوږده كلونــه په ژړا تيــر كــړي
ســترګو كې اوښكې وچې شوې په كې نم نشتـه

د شــرارت خــواته حــافظه تل په منډو درومي
چې شي اوچت د خيــر په لوري يو قـدم نشــتـه

۱۳۷۱/۹/۳۰ د جلال آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# همدا غزل

ټول محفل غزل غزل دی خو ساقي بیت الغزل دی
دین دنیا زموږ نه اخلي عشقه دې کې دې هم چل دی
چیرته داشلې پا پې او چیرته ستا د دیدن لارې
کله غوږ ځم کله پرځم د میړې په پله مزل دی
بیلتانه وچې میړې دي د وصال کعبه ده لرې
د ارمان د حاجي زړه مې د احرام کړی تکل دی
د جمال په مال مغروره دم قدم په احتیاط بږده
په دې وخت دې زمانه کې هر سړی د حسن غل دی
خبر نه یم نه پوهیږم چې پرې ټوله دنیا سوزي
که د مینې اور بوازې بس زما په زړه کې بل دی
چې قبله د ټول عالم او سجده ګاه د پرښتو ده
دا محل هغه محل دی دا د رشل هغه د رشل دی
قربانی د محبت ته چې له ټولو نه اول ځم
نوم د یار په خوله اخستی ماله ټولو نه اول دی
ګفتار هغه وخت ګفتار شي چې کردار ورسره مل شي
بې کرداره ګفتار څه دي بې فایدې خوشې عمل دی
سر مې ځارشه ورنه تیر یم نن ورځم د یار کوڅې له
که ولاړ په هر قدم کې راته جوړ تیار اجل دی
چې حافظ د زړه په وینو د کاغذ پر مخ لیکلي
« بختانیه » که غزل دی نو همدا غزل غزل دی

۷۲ کال د حمل میاشت کله چې د خیبر په دره کې د پیښور خواته روان وم نو د استاد حمزه صاحب د کور سره نژدې د دغه غزل مطلع راغله .

# پوه نه شوم

نه په خزان نه په بهار پوه شوم
نه په راتللو د نگار پوه شوم
تر اوسه په خپله گناه پوه نه وومه
ایله چې اوس په سر د دار پوه شوم
نه یې د وصل د خوړو په هیله
نه د بیلتون په انتظار پوه شوم
نه راته یار د مینې راز ووایه
نه په خبره د ربار پوه شوم
نه بهرمند شوم د سحر له فیضه
نه د بلبلو په چغار پوه شوم
حیران یم خلکه چې اوس څه وکړمه
نه په اقرار نه په انکار پوه شوم
چې د غوټۍ شوندو کې وینې راغلې
نو د اغزیو په آزار پوه شوم
حافظه تېرې شوې اوبه له ورخه
اوس که په لمسه د اغیار پوه شوم

۱۳۷۲/۱/۱۹

کور تایمني کابل

# د ریدلې قافلې

ولې ترپښېو په نیمه لار کې قافله پاتې ده
لا تر منزله پورې ډېره فاصله پاتې ده
لا مو په مخکې ډېرې شته دي د تور مرګ مرحلې
ستړې ستومانه چې له تګه راحله پاتې ده
د بیلتانه د تورو غرو سلسلې نه لنډېږي
زموږ ترمرګه پورې دغه سلسله پاتې ده
زما ځګیروي آه و فریاد دې ناراحته نه کړي
دې رنځور زړه کې نوره کله حوصله پاتې ده
نورو د نور شراب په سر کړل خو ما خوار غریب ته
ډکه له زهرو ځنې بس یوه پیاله پاتې ده
زما نصیب کې دوزخونه سره اورونه لیک دي
که ستا په لاس کې د فردوس قواله پاتې ده
د محتسب له احتسابه ورته چا ویلي
چې د مینا مرۍ کې بنده قلقله پاتې ده
زه د هغې دنیا حساب کتاب ته نه یم تیار
په دې دنیا کې لا جړه معامله پاتې ده
بس د رنګ شیبې ته به تیاره شي د محفل په محل
شمع د مرګ سلګۍ وهي یوه شغله پاتې ده
غمازه پام چې په سپینو ډکو تیرنه وځې
ځوانه مې زړه کې لا د مینې ولوله پاتې ده
۱۳۷۲/۵/۹

# د پېرنو ديوې

زمونږ د خوارو امېدونو ديوې څله وژنى
ددې تنكو تنكو ګلونو ديوې څله وژنى
صله د رحم ده په كار د غريبانو سره
په تور ماښام يې د بختونو ديوې څله وژنى
تورې تيارې به راخورې شي د جهان په كلي
ددې رنځورو زخمي زړونو ديوې څله وژنى
چغې فرياد به مو له ستورونه خوب وتښتوي
په نيمو شپو مو د خوبونو ديوې څله وژنى
پريږدئ چې تتې خاطرې مو وي د مينې ژوندي
بلې د عشق په مزارونو ديوې څله وژنى
د بې ګناه قتل ګناه به در په سر شي ګورئ
ددې شاعر زړه د خيالونو ديوې څله وژنى
ارمان په خوا به پتنګان په بيرته لاړشي ورنه
زمونږ د مينې د بزمونو ديوې څله وژنى
لاندې په څمكه درنه بله ديوه پاتې نه شوه
پاس په آسمان كې د پېرنو ديوې څله وژنى
يوځلې نه په څو څو ځلې دې وژلې ورته
بيا د حافظ د ارمانونو ديوې څله وژنى

۱۳۷۲/٦/۲۵

# د وریځو پلو

چې شیدا په ښکلي مخ د ګل اندام شوې
ای بلبله! د ګل نه شولې د دام شوې

نږوي چې د ایمان د کعبې خښتې
ای زما اسلامه داځنګه اسلام شوې

ما ته ایښې ږک کنډول مخکې د وینو
ته مخمور لکه فغفور د چا په جام شوې

ما اخستی په سر ستا د مینې تور دی
وایه ته د چا په مینه کې بد نام شوې

سپوږمۍ مخې ته د وریځو پلو وینو
رابښکاره چې ته بیګا په سر د بام شوې

د دوزخ د اور لمبې به دې پوخ نه کا
که یوځلې د جانان په مینه خام شوې

یوه نیت په شرق تړلی بل په غرب دی
ته لا راغلې په محراب ورته امام شوې

۱۳۷۲/۷/۱۲

# د وفا فیصلې

د ښکلو په جرګو کې فیصلې د وفا کیږي

اوس ګورو به مجنونه چې لیلا به د چا کیږي

ده ګوته د حیرت ورته دنیا په خوله نیولې

آشنا ! د ستا له لاسه چې کوم ظلم په ما کیږي

وعده دې په ټول عمر د دیدن نه کړه پوره

جانانه ! تاخو ویلې چې نن کیږي سبا کیږي

دژبې په سر راشي خو د زړه له تله نه وي

ای یاره ! چې ښېرې درته کومه دوعا کیږي

زړه تینګ شه د مینو سترګو جنګ دی پام کوه

په دې کې د ښو د سنګینونو غزا کیږي

حافظه دا دستور دی چې مدام په محبت کې

نازکیږي مکیز کیږي د خوبانو اداکیږي

۱۳۷۲/۹/۲۳

# د جانان غیرې ته

د زړه ماشوم مې هوسیږي د جانان غیږې ته
هغه د مینې محبت د خوږ جهان غیږې ته
چې ئې د زلفو توره شپه کې کړي رڼا خالونه
ستوري تل ځان رسوي شپه کې د آسمان غیږې ته
په کار د مینې د وفا هیله تري نه ده په کار
رسیدی نه شي بې ایمانه د ایمان غیږې ته
چې له کافره ئې هم کلک زړه په گوگل پروت دی
ځان مې ورواچاؤ د هسې مسلمان غیږې ته
دلته چې راغی لوی ناتار پرې د بې وخته خزان
بلبلان ځي د نا آشنا غوندې بوستان غیږې ته
کیسه د مینې ئې خپره شوه د آسمان په کلي
مجنون چې ووته د عشق د بیابان غیږې ته
بې گناهي ئې زلیخا ته شوه څرگنده هله
یوسف چې ولوېد د تورونو د زندان غیږې ته
په ځان مغروره فکر وکړه لیونی خونه ئې
ورغورځوي چې ځان داوبشکو د توفان غیږې ته
د خوار ژوندون د ناخوالیو کډه بار په ولو
ځان رسوي د مهاجرو د کاروان غیږې ته
په افغاني غرور مې بلې د سره د اور لمبې شوې
په تیتو سترگو ور روان د این و ان غیږې ته
چې ئې په مینه یو مظلوم هم په کې ونه نیوه
حافظ حیران دی د دې هسې رنگ انسان غیږې ته
۱۳۷۲/۱۱/۱۶

# چیرته لاړشو

په هره خوا اور راته بل دی موږ به چیرته لاړ شو
په سرو سکروټو کې مزل دی موږ به چیرته لاړشو

د مرګو سیورې مو مو دام په سرو چتر ګرځي
قدم قدم کې ناست اجل دی موږ به چیرته لاړشو

رانه ئې لوټ کړ سر او مال او س په بل غم اخته یو
په ملک راغلی هسې غل دی موږ به چیرته لاړ شو

دا نن چې سوزي ایره کیږي د اور سرو لمبو کې
دا خو هغه ښکلی کابل دی موږ به چیرته لاړشو

یوه خوا پاڼ بله خوا پړانګ راته غاښونه چیچي
زموږ له حاله سم متل دی موږ به چیرته لاړشو

دومره ځای نشته چې څوک سرور لاندې سیوري ته کړي
وطن د سرو وینو مقتل دی موږ به چیرته لاړشو

۱۳۷۲/۱۲/۸

# د غزل زلیخا

بابا د ستا په مرګ باندې دنیا د غزل مړه شوه
مجنون د غزل مړشو هم لیلا د غزل مړه شوه
په شونډو د پښتو د یتیم شوي شعر پلاره
خندا د غزل مړه شوه هم موسکا د غزل مړه شوه
چې ؤ ستا د غزل د رنګینیو کوه طور
سینا غونډې خیبر کې دې رڼا د غزل مړه شوه
چې نشته په رخسار ئې آرایش د تغزل
په سترګو د مینو کې ښکلا د غزل مړه شوه
شوې ورانې میکدې خمان نسکور نه دی عجب
ساقي د ستا په لاس کې که مینا د غزل مړه شوه
ماوې چې د ادب په اقلیم شوی ځه ضرور
تسبو کې د زاهد چې نن دوعا د غزل مړه شوه
شاید وي دا خبر هم لګیدلی ستا په غوږ
مطربه ! چې په ساز کې دې نوا د غزل مړه شوه
خبره ! ستا د کلي او مالت د لیونو
بې وخته هغه شور هغه غوغا د غزل مړه شوه
مرګو راغله محل ته د غزل د ښا پیرو
پوښتنه رانه مکړه چې د چا د غزل مړه شوه
چې ستا مرګوني ژوند ته ؤ د عصر مسیحا
پښتو هغه طبیب هغه دوا د غزل مړه شوه
شاهین ئې په غم دود شو د شمشاد د سر درو
ژوندي زلمی وزر کې ئې هوا د غزل مړه شوه

مــحــفـل راتـه نن ســوړ ښکاري د روم او د تبـريز
سـوز مې شـو د حـمـزه سره صـفـا د غـزل مېره شـوه
سـتــومــانـه زمـزمـه کې وايي دا روح د اقـبــال
خـيـبـر کې يوه ښکلې ډ يوه بيـا د غـزل مـړه شـوه
راحـتـه! د پښتـو د مـعـاصـر غـزل امـامـه!
څه وشـو ستـا له وروسته اقـتـدا د غـزل مړه شـوه
ايـلـه چې اوس راغـلې وه په څــــــنــــو په وربـل
« ناظره » هغـه پيـغله په رښـتـيـا د غـزل مـړه شـوه
« مـــاهره ! » هله ورشـــه د « خـــاطر » په هديره
خبر ورکړه چې مړه شوه ښکلې ستا د غـزل مړه شـوه
« رفـيـقـه! » دا په څـه شـو د شنوارو بزم سـوړ
رباب وائي پردوکې مې شـرنګا د غـزل مـړه شـوه
چې نه شتـه په کې مـتـره د پرون د زړه راکښـون
د حـسن اننګو کې غـوړيدا د غــزل مـړه شـوه
د اوښکو کـاروانو ته څې ګـريوان ته د کنعـان
نن مـصـره ! په خـيـبـر کې زليـخا د غـزل مړه شـوه
« مـراده » شي تـيـاره به د خـيـبـر د ادب کـور
رڼادې کـه په کـور کې د بابا د غـزل مـړه شـوه
۱۳۷۲/۱۲/۱۸
کابل
يادونه : د بابای غزل استاد حمزه شينواري په مړينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داڅه ورځې دي ؟

په تیریدو مې د ځوانۍ ورځې دي
مل مې د ژوند د ستومانۍ ورځې دي
امسا په لاس په کبره ملا ګرځمه
راته څیرمه د پریشانۍ ورځې دي
شبابه تیر لکه بریښنا غوندې شوې
راغلی اوس د حیرانۍ ورځې دي
په وریدو مې دی اسمان د سترګو
موسم بدل شو بارانۍ ورځې دي
د ځوانۍ ورځې رانه لاړې خوشې
اوس راڅیرمه د پښیمانۍ ورځې دي
د مینې یار چې راته نه ګوري سم
د غیر غماز د شیطانۍ ورځې دي
تا ته ئې رخ د ودانۍ راوړی

په ما راغلې د ورانۍ ورځې دي

ما ته په هر قدم کې غم پاڅوي

ستا په نظر کې سېلانۍ ورځې دي

بیه د هر شي جګه شوې ډېره

خود سرو د ارزانۍ ورځې دي

چې د جانان په در کې نه قبلېږي

عبث زمونږ د قربانۍ ورځې دي

ګوره چې رنګ او خوند به څوک ترې اخلي

وینې د ستا د مېلمانۍ ورځې دي

پل به د غیرو په کې پرې نه ږدمه

مینې د ستا د دربانۍ ورځې دي

۱۳۷۲/۱۲/۲۶

کابل

# درنه ځم

د ځـو ورځـو مـهــمـاڼ یمه جـانانه درنه ځم
زړه تنگ نه کړې قربان دې شم میزبانه درنه ځم
تږلې د ژوند کـډه د رنگ شـیـبې ته په سـر بړدم
مکانه درنـه تـلـونکی یم زمـانـه درنـه ځم
راغلی چې وم بې سـر او سـامـانه په کـوم رنگ
په هغـه رنگ به بې سـر او سـامـانه درنـه ځم
نه مـینه د بلبل او نـه ښکلا شـوم دوربل
یو گل یم رژیدلی گلسـتـانـه درنـه ځم
حسـینه! مـاه جـبنیه ! نوردې نه حیـرانووم
آئینه دې شـومـه حـسن ته حیـرانه درنه ځم
راوښـتـی یم په جگو جگو غـرونو د بیلتـون
راغلی یم سـتـومـانه او سـتـومـانه درنه ځم
دا نن دی چې له خیـاله هسې زلفې کړې پریشـانه
جـانانه! زه هم داسې پریشـانه درنه ځم
ای یاره ! رخ مې ومنه د ځیـرې گـریوانه
راغلی ښـه هوښـیـار وومـه دیوانه درنه ځم
حـافظ هیـله راوړې وه د ښکلو د دیدار
دیدار ته دې پرې نښـودم د ربانه درنه ځم
۱۳۷۲/۱۲/۲۶

# آسماني سروش

لکه چنجي چې د وريښم له ګيډې تار باسي
شاعر له نسه د شعور داسې اشعار باسي
لکه چې اينبی غوړ سالک وي آسماني سروش ته
داسې شاعر الهام د عشق ته انتظار باسي
زه به تر هغو پورې ژاړمه د يار په درکې
څو چې ګريوان کې مې د اوښکو ويالې لار باسي
بنده د عشق يم زه په دې کې اعتراض ته لرم
که د غلام غوندې مې مينه په بازار باسي
زما زړه هم داسې غوړيږي په بهار د وصال
لکه ګلونه چې غندلي په بهار باسي
چاته فرياد وکړم او عرض د چا په درکې وکړم
چې بې ديدنه مې د عشق له کلي يار باسي
که حال يې ګورئی خلکه راشئ ګونګسې دي هسې
چې د رنګ شيبې ته به حافظ په سر د دار باسي
۱۳۷۲/۱۲/۲۷

تايمني کور

کابل

# د سترګو راکټ

د یو شاعر جنازه وځي د کابل له ښاره
د ویر نغمې راپورته کېږي د غزل له ښاره
مور په خپل ژوند د نیک مرغۍ شیبه ونه لیدله
موره راغلي بد بختان یو د ازل له ښاره
خپل سره لاسونه به زندۍ کړي د قاتل د مرۍ
که یو ژوندی چیرته راستون شو د مقتل له ښاره
د نظر سپورمۍ ستا د سترګو د راکټ له زوره
د زلفو کورته مهاجر شو د وربل له ښاره
چې پرې رندې شبې د یارانو مهربانه سترګې
ځي د اغزیو سوغاتونه اوس د ګل له ښاره
چیرته به ومومي د امن د سارا لمنه
ډیرې ماشومې کډې بار شوې د اجل له ښاره
ډیر غریبان یې آواره کړل درپه دره ګرځي
خو ورک یې نکړ دومره زور سره یو غل له ښاره
حافظه پوه به شو هله د سپرلیو په خوند
که دا کارغان چیرته بهر شول د بلبل له ښاره

۱۳۷۱/۳/۱۳

تایمني کابل کور

# د مرگ چاره

د مرگ چاره مې په مرۍ باندې اغیار ایښې
کله اغیار ایښې ده بویه چې مې یار ایښې
چا ته گلپوش موټر ولاړ وي ناوې کورته بیایي
چا ته گلر نگه جنازه په اوږو بار ایښی
د وخت د جبر حکومت دی جاري شوي دلته
کنه چا مرگ ته غاړه کله په اختیار ایښې
ډیرې ناویاتې نامراده ځواني مرگې شولې
بنا رسي یې جنده شوې په مزار ایښې
هره خوا چغې فریادونه دي د کونډو میندو
په زخمي زړه باندې پټۍ د صبر پلار ایښې
چې په سرو شونډو د غوټیو کې موسکا وچه ده
ناغه د وینو په سرو گلونو بهار ایښې
د درد له زوره چې مې ستر گې بیخي نه غړیږي
د غم دنیا راته په سر کوم ستم کار ایښې
د وخت د مومنه رارسیږه برید په کاردی درته
جوړ د شهي دولۍ په خوله کې د ښامار ایښې
د ژوند بازار راته سوړ ښکاري خریدار نه لري
د مرگ متاع قدم قدم کې په بازار ایښې
چا ته لگیږي په سینه غشي د چا د جبر
چا د منصور غوندې ځوانۍ په سر د دار ایښې
برات د مرگ یې دی راوړی د حافظ د قتل
نن چې د خیال کږه خولۍ په سر ریبار ایښې
۱۳۷۱/۷/۲۹/
کابل تایمني کور

# د مرگ انتظار

یم انتظار چې به د کوم راکبږ په اورکې سوزم
دا زه کمزوری خوار غریب به په کوم زورکې سوزم
چې په کوم ځای کې ئې د قهر او غضب اور ولگي
هلته که نور په کې سوزیږي زه په کورکې سوزم
په دې دنیا کې دوزخ جوړ شو له جنته راته
مخکې له حشره زه ددې دنیا په گورکې سوزم
ما خو میږي هم د پل لاندې آزار کړی نه دی
خدایه ! دازه مسکین د چا د وینو پورکې سوزم
د بیلتون اور د هرمین د زړه په خونه بل دی
کنه یوائې زه دا ستا د مینې تورکې سوزم
د خدای لپاره رامدد شئ دا د چا په عشق کې
لمبې مې جگې شوې له سره په پیغورکې سوزم
که د هجرت په اور یم سوی زړه مې تا سره دی
که ته سوزیږې په کابل زه په لاهورکې سوزم
داچې کوم شور گډ شوی ستا د ژوندانه په محل
در سره سم جانانه زه په دغه شورکې سوزم
په یوه ځای په یوه سیمه باندې نه بلیږي
دا داسې اوردی چې همیش پرې په هرلورکې سوزم
۱۳۷۳/۹/۳
کابل

# د زړونو کور

اورونه را زرغـــون شـــول د ګلونو په هيـــواد کې
مـــيلمـــه شـــو مـــحـــرم د اخـــترونو په هيـــواد کې

قـــدم قـــدم کې رنګ خـــپـــورشـــو د وينو هره خـــوا
د مـــر ګ تيـــاره غـــوړيږي د رنګونو په هيـــواد کې

نور هرڅـــه شـــو قـــيـــمـــتـــه بې وزلان اخـــتـــه په غم
بې مـــثله ارزاني شـــوه د ســـرونو په هيـــواد کې

خندا په شـــونډو وچه شـــوه ژړاده هره خـــــوا
يو وير دی هر طرف ته د غـــمـــونو په هيـــواد کې

وطن ته مـــو راغلې خـــرابۍ دی رنګ په رنګ
خراب دی له بل هرشي کور د زړونو په هيـــواد کې

طبـــيب نه شـــتـــه حـــبـــيب نه شـــتـــه د زړونو د عـــلاج
فـــرياد شـــو د غم ياد شـــو د رنځـــونو په هيـــواد کې

حـــافظه ! د حـــيـــرت په نـــســـتـــرګـــو ګـــوره ورته ته
داخـــه بې غـــيـــرتي شـــوه د ننګونو په هيـــواد کې

۱۳۷۳/۱۱/۲۲

# د پنجرې بلبل

چا ته ورشم ترې قربان شم چا ته عید مبارک باد کړم
نذرانه کړم او ښکې چا ته تیر وختونه چا ته یاد کړم

نه هغه گل او گلشن شته نه هغه ښکلي چمن شته
نه هغه خوا ږه یاران شته په لیدوئې چې زړه ښاد کړم

چا ته څیرې گریوان یوسم چا ته وژاړم په چغو
څوک ئې اورې څوک به ئې واورې چا ته داد فریاد کړم

نپوهیږم نه به پوه شم که هم پوه یم نپوهیږم
چا داهسې رنگ ته خوار کړم چا داهسې رنگ برباد کړم

د زړه عرسه ولړزیږه په دوعامې آمین وکړه
شه هم داسې رنگ ناښاده چې ئې زه داسې ناښاد کړم

چې د غرو سینې سورې کړې خپلې وینې په کې توی کړې
د شیرینې حوږې مینې ! زه به څوک درته فرهاد کړم

گله ! مانه لاس بردارشه بل بلبل گوره په بڼ کې
زه صیاد بند کړم پنجره کې ځان به څنگه ترې آزاد کړم

آب او تاب ته د وجود مې په حیرت پلک اوسندان دی
د ستم د اور بټۍ ئې آب دیده لکه پولاد کړم

۱۳۷٤/۲/۲۰

د لوی اختر اوله ورځ

# د سبا د امید ستوری

د سبا د امید ستوری داسې ورک دی په تیاروکې
لکه ورک چې د چا لعل شي د وختونو په ایرو کې

د وحشت گریوانه تاکې به تنې روغه پرې نه بږدم
د جنون جذبه مې شته لادې کمزورو شان پنجو کې

د وجود د غره هرپاڼ مې انگازه د چا د عشق ده
نامعلومه فریاد اورم د انگیو په ناروکې

د لټون شانه د سترگو په بڼوکې پسې گرځم
مسا پر زړه مې ورک شوی د خوبانو په کمخوکې

ما په ژبه رخصت ورکړ خو خبر د سترگو نه وم
راشه کینه گرانه مه ځه د باران په دې شیبو کې

د کنعان د گریوان اوښکې د لیدو سترگې پیداکړه
د ښکلا یوسف روان دی د کاروان خړو گردو کې

گونگوسه ده په گلشن کې یو گل بل ته غوږ کې وایي
مزه نشته هیڅ د حسن دی بې قدره پسرلوکې

ای طبیبه ! زه به کوم یو درته وایم خپله پوه شه
شته هزار دردونه پټ مې د پرهر په خندیدو کې
خپله یې هم په سر اوربل دی گریوان تر په سپینو اوښکو
دالیدلې شمعې څه دي د پتنگ په سوزیدو کې
مینې جوړ آتش نفس کړم سینه ډکه د سره اوره
سمندر غوندې مې ژوند دی د اورونو په لمبو کې
که بلبل د سبا چوپ دی خو نغموکې تیر ارمان یې
لکه بوی هسې خورشوی د گلونو په وږمو کې
څو ودان د عشق جهان وي او ژوندی په کې انسان وي
د حافظ غزل به اوري د پیړیو په اوږدو کې

۱۳۷٤/۳/۱۰

# د مینې زور

هسې زور مې په زړه کړی مینې ستا
عقل هوش را څخه وړی مینې ستا

راز رغون مې شود زړه په کروندہ کې
چې کرلی په کې زړی مینې ستا

ساه مې سوزي نور قدم اخستی نه شم
کړم په ډیرو منډو ستړی مینې ستا

هرې خواته مې چې بیایې ورسره ځم
اچولی راکې پړی مینې ستا

بندوبست مې د کفن دفن په کار دی
رانه جوړ کړ بېخي مړی مینی ستا

یوه زه نه یم چې یې هسې قول او زول کړم
په دارنګ کړ تیول وګړی مینې ستا

د «حافظ» په سر ئې توري خاوري باد کړې
چې غماز کړو منځګړی مینې ستا

۱۳۷٤/۳/۱۱

# زما دردونه

هغه دردونه چې پر ما تیریږي
مینه کې کله پر بل چا تیریږي
عمر روان جوړه د باد شپه ده
لکه د نن هسې سبا تیریږي
ستا د وفا کیسه به پاتې وي تل
نه پاتې کیږي دا دنیا تیریږي
څو چې ځګر وربانديې نه کړي ستې
پروانه کله له رڼا تیریږي
پرتادې یې سوری قدر هم ونه شي
خیر که پر ماهره بلا تیریږي
زما پر زړه باندې به څه تیریږي
چې رقیبان د استا پر خوا تیریږي
آزار به واخلي د حافظ د مینې
ستا له کوڅې چې بېنوا تیریږي

۱۳۷۵/٤/۲

# د ارمان غوټۍ

د جانان د کور دیوه په بلیدو ده
دم ساعت د هجران شپه تیریدو ده
د پامیرد غره له څوکې به شي هسکه
پښتنه شمله مې بیا په جګیدو ده.
ارماني بلبله راشه ورنه ځارشه
د ارمان غوټۍ موسکۍ په غوړیدو ده
چې آزار یې دی زما د زړه اخیستی
زمانه سلګۍ وهي په ژړیدو ده
د ګودر منګی بانه کړه ګلې راشه
مازدیګر شو د لمر ستر ګه په لویدو ده
سمندر ورته زما د اوښکو جوړ شو
د رقیب د ژوند کښتۍ په ډوبیدو ده
چې به شپه د مینا نو په کې نه شوه
د هغه کلي کوڅه په ورانیدو ده
د بیلتون ترخې شېبې به مو خوږې کړي
د وصال خوږه ورمه په لګیدو ده
بیا به شي پکې تیپې د مینې مستې
عشقه! ستا ورانه دیره په جوړیدو ده
۱۳۷۵/۶/۶

د رحمن بابا په پیروی

# یو تپوس

شنې زر غاراتو کیدلي دي که نه دي
خوبرویان پرې لوبیدلي دي که نه دي
چې د وخت خزان شړلي و بهاره!
بلبلان بیرته راغلي دي که نه دي
د گلشن مالیاره وایه لتا ځار شم
سرې غوټې دې غوړیدلي دي که نه دي
د پسرلي په نشه مستولیو نیو
گریوانونه موجّیرلي دي که نه دي
چې به تل د بیلتانه په ژړا سرې وې
هغه سترگې خندیدلي دي که نه دي
هغه زړونه چې ویده د مرگ په خوب و
په سینو کې تخنیدلي دي که نه دي
کتارونه خړې زانې مهاجرې
په فضا کې نخیدلي دي که نه دي
د رحمن له لاله زار حافظ خبر کړي
چې اورونه یې کړلي دي که نه دي

۱۳۷۶/۱/۲۰

جلال آباد د نارنج گل

# د لوړو غرو په څوکو

ستا تر درشله به درځمه د بنو په څوکو
که جوړه لا روي ستا تر کوره د چړو په څوکو

قدم قدم کې مې د ستر گو فرش هوار دی درته
ته چې له خیاله پرې را درومې د پنو په څوکو

یوه له درده ډکه څریکه مې په زړه شوه خپره
چې شړک دې را کړلو ما خوارته د کوڅو په څوکو

پام تیرمې نه وځې د سر او مخ په سپینو ډکو
واورې وریږي تل مو دام د لوړ غرو په څوکو

چغه د حق به پټه نه کړم که په خوله مې راشي
ویروی څله ما منصور د غر غر وپه څوکو

چې ایره کیږي چوپه خوله اواز یې نه جگیږي
دا پتنگان دي چې سوزیږي د لمبو په څوکو

نه ده خوشبویه شا او خوا د نوبهار په گلو
ستا د وربل عطر خپریږي د وږمو په څوکو

طبیبه! خیر که ملهم نه راوړې پتمۍ نه راوړې
مالګې مې ثله د ورووې د پرهرو په څوکو

د وخت آدم د خپل کرم په لاسو پاکې کړلې
خاورې پرتې وي د درخو د اننګو په څوکو

نه یم خبر چې به سکون په کوم مقام ومومي
د ژوند هیږی مې توپاني شوه دڅپو په څوکو

لکه غونچه د ناز له خوبه سترګې وغړوه
لمر د رته ړدي د تندي خال د پلوشو په څوکو

له کومې وینې رنګ اخستی د چمن ګلونو
زړه د بلبل دي سوری شوی د اغزو په څوکو

زړه مې د خیال وزرې وکړې د حجاز په طرف
ګرځي د مینې د حرم د منارو په څوکو

تراوسه مړندی په مینه کې ژوندی دی «حافظ»
غلبیل غلبیل سینه د عشق د مردکو په څوکو

۱۳۷۶//۲/۸

# د ګلونو محفل

محفل ګل ساقي ګل رنګ په لاس کې جام ګل
ناز يې ګل مکيز يې ګل ادا خرام ګل
په کوم کور چې ګل واته ننواته کړي
دريې ګل ديوار يې ګل کوټه او بام ګل
چې ګل مخې ګل صفته په کې اوسي
په هغه مالت وريږي صبح و شام ګل
مطرب ګل ، سرود يې ګل نغمه يې ګل وي
شمع ګل ، پروانه ګل پاخه او خام ګل
د رنځو د خال دانه ورلاندې کېږدي
چې د مخ لپاسه خور کړي زلفې دام ګل
د خوبۍ مثال يې نشته په عالم کې
رب جوړ کړی دی په خپل قدرت تمام ګل
ګل هغه چې يې صفت واړه د ګل وي
څوک به څه کړي هغه ګل چې وي په نام ګل
ګلرو خان چې سيل ته ووځي د ګلو

سرئې ښکته کړي په هر قدم او گام گل
يار مې گل ريبار مې گل زه گل پرست يم
ځواب گل ، وعده يې گل ده هر پيغام گل
خوله يې گل ، سترگې يې گل بار خويې گل دي
چا لپاره يې ساتلي دي انعام گل
گل قاصده ! چې د گلو ښارته درومې
گل ته وړه زما له خوا دوعا سلام گل
زه به گل غوندې پرې ولې نه غوړيږم
خندا گل موسکا ئې گل هم يې کلام گل
نپوهيږم دا به فيض د کوم بهار وي
ستا د چم په باغ او بڼ کې وي مودام گل
گل بدنه ستا د سيمې گل کڅوکې
غوړيدلي دي د خاصو سره عام گل
وريسې به خود گلونه اقتدا کړي
مسجد گل ، محراب يې گل په کې امام گل
د حافظ د زړه د گل بلبله راشه
هر کلي ته دي ولاړ په احترام گل

۱۹/ ۱۰/ ۱۳۷۶

کابل تايمني کور

# د وصال شپه

د وصـــال شـــپـــه ده ترســـحـــره ډيو بله پريږده
د ديدنونو بخـــتـــــورو ډيوه بله پريږده
چې پتنگ وســوزي بلبلې پرې نغــمې ووايي
د زلفـــو كـــوركې مـــعطره ډيوه بله پريږده
زړه مې لانه دی پوره مـــوړ په نظاره د حـــسن
خواست مې قبول كړه د زړه سره ډيوه بله پريږده
چې درته وكـــړمــــه يوځـــو د دلدارۍ خـــبرې
زما خـــيــالي ښكلې دلبـــره ډيوه بله پريږده
ستا د ښكلا افسانه ورو په وروا ورډ ېرې پسې
د ټولو ښكلو مـــخـــوره ډيوه بله پريږده
لوگي اوگي به كړم لتانه سپيلني د ستـرگو
اللــه دې مــكړه لــه نـظره ډيوه بلــه پــريږده
مــاوې چې زه به لنډوم درته د عـــشق غـــمونه
داكيـــسه نه شوه مـــختـــصـره ډيوه بله پريږده
چې په محراب د وروځو ستا د سجدو وار نشته دی
د قـــدر شـــپـــه ده رادبره ډيوه بله پريږده
كـه لړ تيـاره شوه درندانو بد مـستۍ ته گوره
د بزم مـــيـــره مـــعـــتـــبـــره ډيوه بله پريږده
مـقـام د حـال كې تل د قـال ژبه گونگی پاتې وي
د خـوار «حــافظ» په حـال خـبـره ډيوه بله پريږده

۱۳۷٦/۱۱/۲

حيات آباد پيښور

# په دې دنیا جنت

وروستی وخت وروستی دیدن دی که راځي

ګرانه وخت د ځنکدن دی که راځي

په ځیر ځیر ستا د راتلو لارې ته ګوري

سترګې سترګې مې بدن دی که راځي

چې په ګلو به ئې شورو د بلبلو

اوس خزان هغه چمن دی که راځي

چې به شول په کې د مینې مجلسونه

تس نس هغه انجمن دی که راځي

بې لتا مې داسې حال دی که یې پوښتې

په سره اور کې کړیدن دی که راځي

چې به ما پردې دنیا جنت بللو

دوزخ شوی مې وطن دی که راځي

۱۳۷۶/۱۲/۱۳

# څلور قله

د دنیا غمونه سیند باندې لاهو کړه
ځان ملنګ کړه د جانان په درکې هو کړه
چې د عشق د بندګی طوق دې روزي شي
د فاختې غوندې ځان ستړی په کوکو کړه
دوګانه دې چې قبول یګانه رب کړي
د خپل زړه په وینو تل تازه وضو کړه
د غماز د بدو سترګو که ځان ژغورې
څلور قله هر سبا د رباندې پو کړه
که مطلب دې د جنت د حورو خوند وي
د دنیا د زړې کوندې په مخ تو کړه
چې جهان یې په حیرت تللی ښکلا ته
د سر لاندې د هغې ښکلې ها هو کړه
د وحدت دُر او مرجان چې کړې تر لاسه
نو د اوښکو په دریاب کې ځان ماهو کړه
نفس شیطان د رپسې ګرځي خبردار شه
د تقوی سنګر کې ځان ورته قابو کړه
د موسی د امسأ راز معلوم کړه ځان ته
بې اثره د فرعون سحر او جادو کړه
تار د حورو د جنت له زلفو راوړه
د حافظ د زړګي زخم پرې رفو کړه
۱۳۷۷/۲/۱۳
کور تایمني کابل

# پیوکی

عشقه پسرلی شوم ورندی دی کړم
ښه شیبه باران یم شرندی دی کړم
خال دې د ابرو په منځ کې کېښودم
غشی شوم لینده کې شغندی دی کړم
مړومه سلګۍ د زنکدن مې وې
ګرانه مسیحا شوې را ژوندی دی کړم
تامې د ګریوان تارونه ونغړل
غاړې د جنون ته غړوندی دی کړم
هسې په نری شمال به ورژم
ګل دې د ریدي کړم رپندی دی کړم
تاچې د نظر غشي راوویشتل
لاغر شه د غرونو ترهندی دی کړم
واړه کرامات د حسن خپل ګڼه
شوم هغه زیارت چې رسندی دی کړم
تور د تورو زلفو دې راپورې شو
توریې چې وې بخت هغه تندی دی کړم
خیر که د مالي منت دې واخستو
زیب دې د وربل شومه جُندی دی کړم
تل به دې حافظ د ښکلا پاتې شم
ګلې ! که پیوکی کې ځوندۍ دی کړم
١٣٧٧/١١/٦

## منصوري هوډ

قربان دې شم له سترګو چې جامونه چپه نه کړې
زما د خوارې مینې اُمیدونه چپه نه کړې

راغلې مې د زړه په ورشو سخته وچکالي
باران د دیدن راوړه خو وږونه چپه نه کړې

ترهغو به یوپل له میکدې نه کړم بهر
ترڅو مې چې ساقي په سرخمونه چپه نکړې

د ډیرو ککرۍ به په کې ووهي تالونه
زما منصوري هوډه که دارونه چپه نه کړې

د حُسن چنګیزي لښکره بویه احتیاط
د زړه په غلغله کې مې تختونه چپه نه کړې

فرهاده ! زه دې نه منم د عشق پهلواني
ترهغو چې پرېل مخ دا لوی غرونه چپه نه کړې

امعبد ته هم نشه کې د وحدت راغلې آشنا
واعظ خو دې چپه کړو ممبرونه چپه نه کړې

حافظ به درته ووایي اتل د عشق په څه
که چیرته د اغیارو سنګرونه چپه نه کړې

۱۳۷۷/۱۱/۱۳

کابل تایمني کوړ

# د لمر لمنه

مازدیگر دی ځمه لار د ګودر نیسم
د پیغور د تورو وار ته ئې سر نیسم
زما ژوند دې ورنه ځارشي چې خوښیږي
د بنوغشي یې تول په ټټر نیسم
که ولې د شودوشاتو کې راسمې
شنډه ونه شومه کله ثمر نیسم
چې آباد دې کړم د عشق عمارتونه
نن سبا ورته د مینې اثر نیسم
د لاویز عطر به راوړي ستا د زلفو
ستا د سیمې له نسیمه خبر نیسم
چې دې خیال ساتم د سرو شونډو په زړه کې
«ګویا داچې په پنبه کې شرر نیسم»
چې یې بیل نشم د حسن له مرکزه
د ذرې په دود لمنه د لمر نیسم
زړه مې تور د تورو شپو توروتیارو کړ
د رڼا د راتلو لار د سحر نیسم
خوږ ځواب قاصد راوړی دی له یاره
چې حافظ په مخرم کې اختر نیسم
۱۵/۱۱/۱۳۷۷

# د نظر براق

چې راپورې دې شو تور د تورو سترګو
هله پوه شومه په زور د تورو سترګو
د هوسۍ په شان به ئې خوب په منبر تون وي
پاتې مه شه په چا پور د تورو سترګو
د بڼو نیزوکې زړه وړی له ګوګله
د نظر په براق سپور د تورو سترګو
تاریکو کې د ژوندون اوبه موندې شي
که ځای راکړی یار په کور د تورو سترګو
د رنځو په څیر به دوره ایره پایي
چې کوم زړه سوی په اور د تورو سترګو
«په کې صید کړي د حرم د غزالانو»
د نظر دام چې کړي خور د تورو سترګو
ورځ تر ورځې ئې بازار پسې تودیږي
صفت نه کوومه نور د تورو سترګو
زه «حافظ» چې د ښکلا په بازار راغلم
په کې جوړ ؤ عجب شور د تورو سترګو
۱۳۷۷/۱۱/۱۵

# د حُسن عرش

د بندګی کړی مې غوږ کې شوه غلام وختم
د حسن میره بخت مې ګوره ستا په نام وختم

که شوم وړه لکه رانجه د تندي خال دې شومه
عرش ته د حسن دې اشنا په یوه ګام وختم

د عشق کلال خپله پچه کې راته ځای رانه کړ
په اور د مینی کې لا پوخ نه یمه خام وختم

له هرې خوا راباندې راغلې د تیارو لښکرې
د سبا ستوری وم بې وخته په ماښام وختم

رانه اداب د محفل هیرشو ساقي عفوه غواړم
له ډېرې بېړې وارخطأ په سر د جام وختم

کامیابي مې د دنیا په امتحان کې نشته
په ازموینه کې د مینې چې ناکام وختم

داچې له غیږې مې د عطرو قافلې باریږي
لکه پروته دې د قد په ګل اندام وختم

غمازه ! ستا د بدو سترګو د محک په قیاس
د یار حضور کې شوم سره زر عیار تمام وختم

چې اقتدأ مې په محراب د کږو وروځو وکړه
« حافظ » د مینې مقتدي ومه امام وختم

۱۳۷۷/۱۱/۲۸

# د دانګۍ چینه

په لتــه بند د زړه مې کـډې د جــانان تیــریږي
ځي د ایلبند په لور کـتـار کـتـار اوښان تیـریږي
تورې کـیـږدۍ د دانه ګۍ په چینه ودریدې
د اوبو ژۍ په اوږو ایښې ګلرخــان تیــریږي
ورته ریښې ریښې ګـریوان د مـجنون لاره نیـسي
د سـحـر خـړه کې لیـلا راغله کــاروان تیـریږي
سـبـا بلبلو په نغـمـو کې داسې ویلې سـره
ښکلې بهــاردی زاروان سـپـیـره خـزان تیـریږي
عـشـقـه ! له دې نه به هم بله مـرتبـه وي لوړه
چې د مـیـریي په کـور د حـسن سلیمـان تیـریږي
داخــو نیــولی د ښکلا و دیو وګل په ســرو
هسې په ځنګ چې ترې د حـسن پتنګان تیـریږي
غـمـازه ! ته ترې څه خـبـر یې ته پرې نه یې سوی
کـومـه لمبـه چې د بیلتـون زمـا په ځـان تیـریږي
کـچکول د سـترګـو کې ورواچوه خیـرات د دیدن
ګلې ! کـوڅـه کې دې د مـینې ملنګان تیـریږي
د خدای کـلام کې ورته څـه ښکلې کیـسه جوړیده
څوک څه خبر چې څه کوهي کې د کنعان تیریږي
څوک یې په کانو ولي څوک مـسخرې پرې کوي
« حافظ » په دغه مالت بیا ځیرې ګریوان تیـریږي
۱۳۷۷/۳/۱۳

# گنډيري گلونه

د حسن گل ته دې حيران ولاړ هک پک گلونه
چير ته گلاب گلونه چير ته د زمبک گلونه

گلې ! چې ته به پرې راځي لکه ورمه د گلو
څه هغه ځمکه هر قدم ځپک ځپک گلونه

چې تش ښکالو دې د ښکلا ورته په غوړ کړه نسيم
له هرې خوا درته په بڼ کې شو راڅک گلونه

ريباره ! تاوې يار به راشي لا راغلی نه دی
په انتظار مې شو د سترگو مردمک گلونه

د که ځولۍ د روړم وربل ته د سپين غره له گلو
څه گنډيري گلونه ښکلي څه مښکک گلونه

څه ښکې حسن در کړی پاک الله دی درته
ستا د گل مخ سره پيدا کړي لاښک گلونه

داخو بورا دی چې د ژوند کور ئې غونچې د گلو
کله ليدای په رښا ورځ شي شو پرک گلونه

حافظ چې ستا د حسن باغ ته هر سحر در رومي
کړه کوي په کې د سترگو په محک گلونه

۱۳۷۸

# د حُسن باران

یو گل وم له گلونو گلستان کې به مې شپه وه
بهار کې به مې شپه وه په خزان کې به مې شپه وه
د مخ د لمر په وړانګو کې دې ورک اوبه اوبه شوم
روڼ ستوری د آسمان وم کهکشان کې به مې شپه وه
سهار به د بلبلو په نغمو راجګیدم
د تورو تورو زلفو شبستان کې به مې شپه وه
جنونه ستا وحشت زړه کې پیدا کړ داسکون
وحشیان به راته رام ؤ بیابان کې به مې شپه وه
ښکلا د طبیعت به کړه هردم نور افشاني
لوند لوند به وم د حسن په باران کې به مې شپه وه
نه غم د بیلتانه ؤ او نه فکر د هجران
د وصل په ښایسته ښکلي مکان کې به مې شپه وه
ماشوم غوندې مې لوبې ستا خالونو سره کړې
نتکۍ کې به مې شپه وه په پیزوان کې به مې شپه وه
وړمه وم هر سهار به دې له څنو خپریدم
سنبل کې به مې شپه وه په ریحان کې به مې شپه وه
نسیم د صبحدم به نازولم تخنولم
امیل ومه په غاړه د جانان کې به مې شپه وه
په کوم نظر چې اوس «حافظ» ته ګورې داسې نه ووم
تنۍ غوندې د ښکلو په ګریوان کې به مې شپه وه
۱۳۷۸ / ۲ / ۲۴

# د سبا ستوري

د تورو ستر گو غم په سر واخستم
لکه نشه ئې په ساغر واخستم

شو د زړه بدر مې د تندر په حال
نن يې چې تول په خپل نظر واخستم

شوم ئې له سر د قربانۍ ګډوري
زه لړ ولاړوم خو ده بر واخستم

د سبا ستوري وم اوس بل څه شومه
ذره ذره د حسن نمر واخستم

چې هر يو غبرګ مې راغبرګيږي په غوږ
لکه انګې په غيږ کې غرواخستم

«حافظ» به اوس پدې کې څه ووايم
تاچې د مينې په هنر واخستم

۱۳۷۸/۲/۲۵

کابل تايمني کور

# د پنجرې دروازې

تـه چې لاړې زه دې پرېښــــــودم يـوازې
را پـه مخ شــوې د دنيـــا د مخ نـاســازې
بلبل وار د گل پـه هجــر شــور فـريـاد کـړم
د پـنجـــرې دروازې نـه شـــوې راتـه وازې
دې مـــالت کې زړه ســـوی نشـــتــه پـه ويرژنو
ســتـــا کـوڅې تـه مې راځي اوښکی آســتــازې
پـام چې مخ دې ښکاره نـه کـــړې د ســــالونـه
پيــــدا شــوې بدې ســـترگې نظربازې
ښــا پيـــرې د چين مـــا چين مې هم کــتـلي
ســتــا پـه څـيــرنشــتــه اوږدې زلفې درازې
حـــيـــرانيــږم دې دســـتـــور د زمــــانې تـه
چې پـه مـــيـنـه اشـــارې بـولي غــمـــازې
«حـــافظ» پوه شــومــه پـه راز د دواړوکـــونـو
چې مې ســترگې ستـــا د ســترگو شوې همـرازې
۱۳۷۸/۲/۲۸
کابل تايمني کور

# د ځواني مرگی منگی

په چغـــو او په کـــو کـــو دې په وروژړیدم
پـــه لـــر وژړیـــدم او هـــم پـــه بـــر وژړیـــدم

قـــربان دې له درباره شم دربان مې شـــو مـــانع
حـــضـــورته دې درتلی نشم بهـــر وژړیدم

بلبل سره د مـــینې په دســـتور کې یم شـــریک
د گل په پانه پـرخـــه د ســـحـــر وژړیدم

دنیـــا راســـره ژاړي خـــو یو یار راســـره نه
نغـــمـــه د مـــنات رباب شـــوم په هنر وژړیدم

د حُسن مـــازدیگر مې کړو په خپلو اوښکو ډوب
منگی د ځـــواني مـــرگې په گـــودر وژړیدم

راوړې مې له ســـپین غـــره ځـولۍ تشـــه د مـــراد
په خـــړو خـــړو غـــرونو د خـــیـــبـــر وژړیدم

هیڅ رحم ئې رانه غی دې کلک زړه کې په «حافظ»
هرځـــو مـــره کـــه په مـــخکې د دلبـــر وژړیدم

۱۳۷۸/۳/۷

# سپیره منګی

بیګاه په خوب کې مې دلبر په غېږ کې سر ایښی ؤ
ځکه مې سر له اسمانونو څخه بر ایښی ؤ

اوس د خپل سر په قدر یاره پوهیدلی نه شم
سرخو ؤ هلته چې مې کله ستا په در ایښی ؤ

د ګلو تاج به مې ګنهلو پرې ستومانه نه وم
چې مې د سر لپاسه ستا د غمو غر ایښی ؤ

د ناز په نیم نظر دې زه څنګه بیدله کړمه
دادې په سترګو کې جانانه څه هنر ایښی ؤ

ته چې په دا قدو بالا د باغ په لورې لاړې
سر دې پښو کې درته سرو صنوبر ایښی ؤ

وخته د خاورو سره خاورې شوه د مجنونو میره
سپیره منګی یې لا تراوسه په ګودر ایښی ؤ

ماوې د بد نظر اثر به درنه کړه وکړي
سپیلنی زړه مې ستا د عشق په مجمر ایښی ؤ

«حافظ» به تهوله شپه د ستا د یادو ذکر کاؤ
غوږ به یې تل په غږ د الله اکبر ایښی ؤ

۱۳۷۸/۳/۱۷

# د کرم امسا

پـــریـــوتم د زړه لـــه زوره پـــریـــوتم
عـــشـــقـــه ! ســـتـــا لـه مـــســـتـــه شـــوره پریوتم

لـږ د لـونـګـیـن نـه دي خطا شـــومـــه
لاس راکـــــوه هـلـه ګـــوره پـریـوتم

حُـسنه ! ســتـــا د خـــیـــال د دنګو غـــرو په لار
بـرنـشـم خـــــتـی نـسـکـوره پـریـوتم

شـــور فـــریـاد مې واوره د جنون د ښـــتـې
ســـتـــا پـه لمن څـــه بې کـــوره پریوتم

راکـــړه د کـــرم امـــســـا چې پورتـه شم
راشـــه ای زمـــا غـــمـــخـــوره پریوتم

تور د ســتـرګـو سـپـین مې ســتـا پـه یادو شـوې
ایٔ زمـــا د ســـتـــرګـــو توره پریوتم

جـوړچې د حـــافظ د عـــشق جـــهـــان نـه شـو
دا دنـیـــا کـــــړه ورانـه نـوره پـریـوتم

۱۳۷۸/۳/۲۳

# د سترګو مسيحا

کــــه داغـــــونه مې د زړه ګـــــورې راځـــــه
آينه کې ځـــــان ته څـــــه ګـــــورې راځـــــه

روح مې تـللي سـتــــــا د يادو هديرې ته
کـــه مـــا خـــوار غـــريب ته ښـــه ګـــورې راځـــه

چې باران د پشـــه کـــال ورته حـــيـــران دی
کـــــه د اوښکو وريده ګـــــورې راځـــــه

دود يې خـــيــــرې ايرې کـــيـــرې پتنګان دي
په ډيوه کـــــه ســـــوزيده ګـــــورې راځـــــه

شـهــادت يې مـبـارک شـه ستـا د ستـرګـو
په زړه خښ دې کـــــه بانه ګـــــورې راځـــــه

لاس دې راکـــړه ســتـــرګې پټې کـــړه بيــا ګـوره
کـــه ترعـــرشـــه رســـيـــده ګـورې راځـــه

ســـتــا د شـــونډو خـــوږلني ده پرې غـــالبـــه
خـــيــر کـــه ســـتــرګـــو کې ترخـــه ګـورې راځـــه

ستـا د ســـتـــرګـــو مـــســيـــحـــا ته په کـاته دي
کـــه د عـــشـق په تبـــه مـــړه ګـــورې راځـــه

کـــه قـــبـــوله مې دُعـــاشي ګـــرانه ياره
بده ورځ په ژونـد و مـــه ګـــــورې راځـــه

۱۳۷۸/۳/۲۳

# رنځورې ته

چې دې وچو سپيرو شونډو ته نظر کړم
ګلې وايه ! چې زه څه خاورې په سر کړم
که زما په وينو ستا د خوږ علاج شي
چاړه واخله چې د زړه وينې مې درکړم
چې خالي دې اوښکې وګرځي په سترګو
نو ګريوان له غمه زه په اوښکو ترکړم
که د مرګ پرښته چيرته پرې راضي شي
زه به ساه د ستا د ساه په بدل ورکړم
که ته نه يې راز به ستا د مينې فاش کړم
زه به ټول عالم په دې مينه خبر کړم
نا معلومه درد دې خوري د صورت وينه
په وينا به د طبيب څنګه باور کړم
زما عشقه ستا له ځوره به څه وايم
زه دې څنګه په ژوندونې درپه درکړم
که ډيوه ستا د جمال شي چيرته بله
د پتنګ غوندې به زړه پرې خاکستر کړم
حافظ ستا دروغ صورت ارمان وړي ګورته
خاورو لاندې به هم ستا لورته نظر کړم

۱۳۷۸/۳/۲۶

# د گلو کر

د گلو کــرته مې د ربو له چې گــلان وکــرو
ښــو امــیلونه چې په غــاړه د جــانان وکــرو
خیر دی که کال سو کړه راغلی اسمان زړه کلک کړي
د زړونو للمـــه به د اوښکو په باران وکـــرو
چې د توپان د لیــونو مــوجــونه ونه ډارشي
د قــوبچی به په ښــپــوکي د گــریوان وکــرو
کټ او پیــروني به ترې جــوړشي تلې هم ورســره
راشه د اوښکو یو ښو ستوري په اسمان وکرو
گوندې دمه ئې شي په سیـوري ښوبې دمه زړونه
د رحم زړي به په زړه کې د انســـــان وکـــرو
چې ډ ک خــمــان راته ولاړوي د کــاله په غــولي
یو ښــوتا کــونه به په کــورکي د مــغــان وکــرو
یو لاله زار به ورنه جــوړشي د بهــار په مــوسم
د زړه ډاغــونه کــه د عــشق په بیــابان وکــرو
چې د راتلو هرپل ئې ســتـرگــوته دا ویاړ وبښي
حــافظه راشــه چې په لارکې ئې چشــمــان وکــرو

۱۳۷۸/۵/۷

# غلچکی خال

د وروځو خال ئې غلچکی د زړونو لارې وهي
ځوک چې تالاشي هره خوا چغې کوکارې وهي

حُسنه ! ځلادې یو په ځوشوه د بهار په موسم
ځنو وربل کې چې ګلونه پرې وارې وهي

ساعت ګړی ته مې د عمر تهغر تول وګنه
د ژوندون پانګه مې غمونه وار په وارې وهي

ځمکه فضا د بیلتانه ماتم په سر اخستی
دلته زه ژاړم په هوا زانې چیغارې وهي

چیرته سیلاب او چیرته توی چې په ګریوان بهیږي
دامې د سترګو له اسمانه اوښکې دارې وهي

د زړه پرهرمې شو زولن ناسور به جوړشي ورنه
کاږه بانه دې شیبه دم په کې نوکارې وهي

زاري جګي دي لاس د چا زنې پښې ښکلوي
دولت د حُسن بیا د کومې یوې خوارې وهي

چې یې له سترګونه د ستورو تښتولی دي خوب
دا خو حافظ کړیکې له درده د ناچارې وهي

۱۳۷۸/۵/۲۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تندر توره

د تندر توره چې د وریځو په لښکر ووته
ناره د فتح د مستانو له سنګر ووته

د زړه په فصل مې تنها د بړلۍ تیره شوله
داسې ئې وسوم چې مې سره لمبه له سر ووته

د تورو شپو تیارو په غېږ کې پوره، وځبیښلم
بس دغه چغه مې له خولې نه په سحر ووته

رنګین بازار ئې د همزولو په ګودر کې جوړ کړ
د نجونو میره چې له کوره مازدیګر ووته

چې د بڼو نیزې ئې ما پلو راواړولې
ما وې سینې ځنې مې څوکه د خنجر ووته

روحه! چې ته مې له نظره شوې پنا د سترګو
سا مې وزرونه ورته ګوره د نظر ووته

د زړه ملوک مې د کلونو مسافر شو پسې
بدرۍ د حُسن چې ارم نه په سفر ووته

نن د ساقي د مستو سترګو اثر دومره زیات شو
ستا بد مستۍ شرابه څه شوه په کوم ور ووته

حافظه غلا ته دې د زړه د کور راغلې وه څوک
پرې خبر نه شوې ښا پیرۍ وه په هنر ووته

۱۳۷۸/۶/۱۷

ACKU PROPERTY OF

# مات ستوري

دچا دمینې دیادونو قافلو سره ځم
سحره ! ستا دماتو ستورو بدرګو سره ځم

یوه شیبه نیمه به یم دمه دیار په رخسار
لکه شبنم په ګل د نمر دراختو سره ځم

دسفر غوټې مې تړلې داشنا کلي ته
ځم روانیږم دبلبلو دنغمو سره ځم

لکه دشمعې بلووم په سر لمبه دمینې
تورې تیارې رڼا کوومه دډیوو سره ځم

دخوښۍ ناوې مې یوه په کور دننه نه شوه
زه به ترڅو ددې نیمزالوجنازو سره ځم

که راپخلا مرور یار شي په موسکاشي راته
دخپلو ترمو ترمو اوښکو دجرګو سره ځم

مالیاره ! پام سترګې درنې نه کړې ګلچین نه یمه
وړمه وړمه یمه روانه دغونچو سره ځم

حافظ (حافظ) یم پاتې شوی حسنه ! ستا په درګاه
که چیرته ځم حسنه ! هم ستا په اشارو سره ځم

۱۳۷۸/۵/۲۹

PROPERTY OF ACKU 8708

# رنگین ماښام

حسن دې ښکلا ده څه رنگین غونډې ماښام دی
وگوره آسمان ته د سپوږمۍ یې لاس کې جام دی

گرځي صراحي په لاس ښکالود ښا پیرو اورم
دلته غني پروت دی سرته ناست ورته خیام دی

هرې خواته دلته کې تسبیح د پرښتو راځي
وینم په حساب کیږي سجود دی که قیام دی

پیرې په سپېږسیو د کنعان د حسن گل پیري
خدایه دا د حسن څه وږیا شانتې لیلام دی

تل چې ترې د مینې طوافونه شپه او ورځې شي
دا جوړه کعبه ده او که ستا د کاله بام دی

ناز د آسمان ستوري هم د ښکلو په لیمو مني
تا ښایست ورکړی چې په خپل قدرت تمام دی

ټول قضا لمونځونه به دې وشي پسې نیت کوه
صف و روځې بانه یې مقتدیان خال یې امام دی

پوخ یې کړ لا پوخ نه دی حافظ په اور د مینې کې
اوس هم لا په سپینه ږیره ستا په مینه خام دی.

۱۳۷۸/۷/۵

## د شاعر چاپ شوي آثار :

۱- دنغمو کاروان ( دشعرو نو ټولو نه ) ۱۳۵۶ کال .

۲- دشمشاد له هسکې څوکې (دشعرو نو ټولګه ) ۱۳۶۲ کال .

۳- ستا دچم ګلونه (د غزاو ټولګه ) ۱۳۶۵ کال .

۴- تاترې ( دنظمو نو ټولګه ) ۱۳۶۶ کال .

۵- دردونه او تکلونه ( دشعرونو ټولګه ) ۱۳۶۹ کال .

۶- مات ستوري (همدا ټولګه ) ۱۳۷۸ کال .

۷- د اتم ټولګي لپاره د تاریخ ژباړه ۱۳۴۲ .

## دشاعر ناچاپ آثار :

۱- دباچا خان په باب نظمونه .

۲- دسولې په باب نظمونه .

۳- زما ترانې د (زرو په شا و خواکې) دتصنیفونو ټولګه .

۴- دنړۍ د ادبیاتو دشاهکارونو کیسې (ژباړه).

۵- دنړۍ دمشهور شاعرانو شعرونه (ژباړه) .

۶- د غزلو یوه ټولګه .

۷- دحق پتنګان: دیني لیکنې چې وخت په وخت د راډیو له لارې خپرې شوې دي

۸- سهارنۍ نذرانې : دیني لیکنې ، د راډیو لپاره .

۹- دلنډو کیسو یوه ټولګه .

۱۰- ویرینې اوستاینې نظمونه .

PROPERTY OF ARIC
Established

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې – جرمني

## خپاره کړي آثار

١ - خيـرې کرېوان، عبدالوهـاب سـرتېر.
٢ - سيندونه هـم مـري، اسـحاق ننګيـال.
٣ - پښتانـه (پټانـز)، اولـف کـارو.
۴ - دويمـه سـقاوي، سمسـورافغان.
۵ - په افغانسـتان کې تـوپـان، غـوث خيـبري.
۶ - د شـملې پـېرۍ تـر نمـايي د افغانسـتان د بـهرنيو اړيکـو تاريخ، لوډيك آډميك.
٧ - پـه افغانســتان کــې رښتيــا څه تــېرېدل؟ الکســاندر مـايوروف.
٨ - د سـيند پـر غـاړه، حبيـب الله زړه سـواند شـينواری.
٩ - ګام پر ګام له خوشـال سره، محمـد آصـف صميم.
١٠- مـات سـتوري، نصـر الله حـافظ.

د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه - جرمني
VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونو لړ (١٠)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**